د افغانستان اسلامي امارت

د پوهنې وزارت

د خوست ولایت د پوهنې ریاست

دکیفیت تضمین آمریت




# د خوست ولایت د عملیاتي پلان د کړنو د پرمختګ

# کلنی تشریحي راپور

د راپور ورکولو دوره: حمل - حوت کال ۱۴۰۳

# د مطالبو نوملړ


د ۱۴۰۳ مالي کال د کلني راپور د چمتو کوونکو نوملړ ..... 3
د ولایت په هکله عمومي معلومات ..... 4
سریزه ..... 5
د کړنو لنډیز ..... 6
د پوهنې د درې ګونو عرصو پر بنسټ د عملیاتي پلان د کړنو پرمختګ ..... 12
لومړی برخه: کیفیت او تړاو ..... 12
۱. پروګرام: ښوونه او روزنه ..... 12
۲. اسلامي زده کړې ..... 14
۳. د کیفیت تضمین ..... 15
۴. سرچینې او اداره ..... 17
۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) ..... 18
دویمه برخه: انډولیز لاسرسی ..... 19
۱. ښوونه او روزنه ..... 19
۲. اسلامي زده کړې ..... 22
۳. د کیفیت تضمین ..... 23
۴. سرچینې او اداره ..... 23
۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) ..... 24
۳ برخه: آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکی مدیریت ..... 24
۱. ښوونه او روزنه ..... 24
۲. اسلامي زده کړې ..... 27
۳. د کیفیت تضمین ..... 27
۴. سرچینې او اداره ..... 27
۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) ..... 29
د غیر پلاني فعالیتونو او لاسته راوړنو برخه ..... 32
تحلیل او پایلې ..... 34
د پام وړ ستونزې او وړاندیز شوې حل لارې ..... 68
مالي رپوټ تحلیل ..... 69
ملپاڼې ..... 70

## د ۱۴۰۳ مالي کال د کلني راپور د چمتو کوونکو نوملړ

| نوم او کورنی نوم | دنده | بریښنالیک | ګرځنده شمیره/واتساپ | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| خیروګل(خیرخوا) | دعمومي زده کړو برنامې آمر | Khirogulkhirkhwa2022@gmail.com | 0772621552/ 771404612 | |
| مولوي نصیب الرحمن | داسلامی زده کړو آمر | ایمیل ادرس نلرم | 0777207548/ | |
| مولوي دلاور(حنفي) | دمنابع او اداره برنامې آمر | Dellawer.hanifi2022@gmail.com | 077058409/ 777943234 | |
| مولوي حفیظ الرحمن(حقاني) | دتضمین کیفیت برنامې آمر | ایمیل ادرس نلرم | 0778271281/ 778271281 | |

دخوست ولایت پوهنې رئیس تائید

| نوم او کورنی نوم | دنده | بریښنالیک | ګرځنده شمیره/واتساپ | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| مولوي فیض الله جمال(حقاني) | پوهنې رئیس | ایمیل ادرس نلرم | 0791474701/ | |

## د ولایت په هکله عمومي معلومات




خوست د افغانستان په جنوب ختیځ کې پروت ولایت دی، ۴۰۲۹ کیلومتره مربع پراخوالی لري، نفوس یې د ۱میلیون څخه زیات وګړي دي. ۱۲ ولسوالی لري چې عبارت دي له (سپېره، دوه منده، نادرشاه کوټ، اسمعیل خیل او مندوزی، تنی، قلندر، موسی خیل، صبری اویعقوبی، باک، ترزیزی وعلیشیر، ځاځی میدان او ګربز) څخه. مرکز یې ۳ اداري واحدونه لري چې(متون، شمل، لکن) دی. دخوست ولایت دغرونو درلودونکی دی چې غرونه یې په ونو پوښل شوي د پاکستان قبایلي سیمې وزیرستان سره لګېدلي دي او د یاد هیواد سره ۱۸۵ کیلومتره ګډه پوله لري، چې په راتلونکي کې به یو ښه ترانزیټي ښار وي. خوست ولایت د پکتیا، پکتیکا سره ګډه پوله لري؛ چې د پاکستان هیواد څخه غلام خان سرحد ته را غزیدلی سړک دخوست بیا د ګردیز او لوګر ولایتونو تیریري، چې له هغه ځایه پلازمېنې کابل ته رسیږي، دغه سړک د پاکستان څخه نورو را داخلیدونکو سړکونو په نسبت ۴۳۳ کلومیترو په کچه کم دی او د افغانستان د اقتصادي پر مختګ لپاره مناسبه لاره ده، خوست د نورو ولایتونو په نسبت ښه معتدله هوا لري او د ژوند د ډیرو چارو لپاره پراخه لمنه لري.

### پوهنه او لوړې زده کړې

خوست ولایت ۳۷۲ بابه د عمومي زده کړو دولتي ښوونځي لري چې۱۶۴ بابه لومړني، ۷۰ بابه منځني او ۱۳۸ بابه یې لېسې دي چې ۲۳۲۵۱۵ تنه زده کوونکي په کې په زده کړو بوخت دي؛ ۱۲۳ بابه د عمومي زده کړو خصوصي ښوونځي لري چې ۵۷۰۵۸ تنه زده کوونکي په کې په زده کړو بوخت دي؛۱۵۲ بابه دسواد زده کړې کورسونه لري چې ۶۴۰۸ تنه زده کوونکي په کې په زده کړو بوخت دي او ۲۲۰ بابه د سیمه ایزو زده کړو او ۸۰ بابه دچټکو زده کړو ټولګي لري چې ۵۴۶۷ تنه زده کوونکي په کې په زده کړو بوخت دي. همدا راز داسلامي زده کړو په برخه کې دا ولایت ۳۵۴ بابه دیني مدرسې لري چې ۶۱۹۳۴ تنه زده کوونکي، ۱ باب دارالعلوم لري چې ۳۴۱ تنه زده کوونکي، ۲ بابه دارالحفاظونه لري چې ۲۵۵ تنه زده کوونکي پکې په زده کړو بوخت دي په دې ولایت کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو په برخه کې ۵ انستیټیوټونه او ۵ تخنیکي او مسلکي لېسې شتون لري.همدا رنګه په دې ولایت کې دخصوصي پوهنتونونو او لوړو زده موسسو ترڅنګ یو دولتي پوهنتون د(شیخ زاید پوهنتون په نوم ) موجود دی چې په طب، انجینري، حقوقو، کمپیوټر ساینس، زراعت، ادبیاتو، شرعیاتو، اقتصاد، ژورنالیزم، وترنري، او ښوونې او روزنې په څانګوکې محصلینو ته لوړې زده کړې ورکوي.

### زراعت اومالداري

خوست د زراعت لپاره مناسب ولایت دی، په دې ولایت کې هر کال دغرونو دجلغوزیو ونو څخه په ټنونو ټنونو جلغوزي راټولیږي، چې په غیر مسلکي شکل دسته بندي کیږي او د ناچیز قیمت په مقابل کې بهر ته استول کیږي. د خوست اب هوا د زراعت اومالداری لپاره مناسب ده، په دې ولایت کې دغلې داني په برخه کې غنم، شولې، جوار، لوبیا، مې، سوابین او نور ښه حاصل ورکوي. خوست د زیتونو او چهار مغزو د نهال کیدو لپاره مناسب ولایت دی او د خوست په یو شمیر ولسوالیو کې یې ښه نتیجه ورکړې ده.

### ټرانزیټ ، اقتصاد او تجارت

د غلام خان بندر ټرانزیټ چې په اقتصادي لحاظ د عوایدو لویه منبع ګڼل کیږي، کاري فرصتونه یې رامنځ ته کړي، دا لاره په اقتصادي لحاظ لنډه او موثره ده، د اموالو د ضایع کیدو څخه مخنیوی کوي، په مناسب وخت کې مارکیټ ته د رسیدو لپاره نور سهولتونه ایجادوي او د یو مهم اقتصادي فکتور په توګه د افغانستان د اقتصادي ودې لپاره غوره بدیل دی. دا لاره په راتلونکي کې کولای شي چې د وصل په یوه مرکزي نقطه بدله شي او جنوبي اسیا د منځنی اسیا سره وصل کړي.

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**الحمدلله رب العلمین و الصلاة و السلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین. امابعد:**

د خوست  ولایت کلنی عملیاتي پلان د پوهنې وزارت د عملیاتي پلان موخو ته د رسیدو په پار په دریو برخو (کیفیت او تړاو، انډولیز لاسرسی او آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکی مدیریت) کې جوړ شوی دی او د دې ولایت د مرکز، ولسوالیو، کلیو او بانډو په کچه د پلي کېدو په حال کې دی، چې د پرمختګ د څرنګوالي په اړه یې د راپور ورکولو مهال ویش سره سم په کمي او کیفي بڼه منظم میاشتني، دري میاشتني او کلني راپورونه چمتو او اړونده ادارو ته استول کېږي.

د عملیاتي پلان د پرمختګ تشریحي راپور جوړولو یوازینی موخه د پلانونو د تطبیق او فعالیتونو د پرمختګ له څرانګوالي څخه په بیلا بیلو وختونو کې ډاډ تر لاسه کول دي تر څو د اداري بیلا بیلو برخو د لاسته راوړنو، ستونزو، ننګونو، کمزورتیا او ځواکمنتیا نقطو څخه معلومات تر لاسه او د دغه نقطو په رڼا کې خپل راتلونکي پلانونو او اړوندو چارو ته ښه والی  ور وبخښي.

د خوست ولایت پوهنې ریاست د فعالیتونو او لاسته راوړنو د راپورونو د لیږد په دوام د ۱۴۰۳ کال د عملیاتي پلان د کړنو د پرمختګ کلنی تشریحي راپور د دري عرصو په رڼا کې چې پورته ذکر شوي دي چمتو او د حمل میاشتې څخه د حوت میاشتې تر پایه پورې د اعتبار وړ او د لاندې برخو درلودونکی  دی.

۱ـ د کړنو لنډیز

۲ـ د دریو عرصو په اساس د فعالیتونو  تشریح

۳ـ د غیر پلاني فعالیتونه

۴ـ تحیل او پایلې

۵ـ عمده ستونزې او وړاندیز شوې حل لارې

۶ـ مالي راپور

۷ـ دمعلوماتي او احصایوي ملپاتې

**لومړی برخه**

# د کړنو لنډیز

## کیفیت او تړاو

### ښوونه او روزنه

- دخوست ولایت پوهني ریاست د مسلکي پراختیا غړو له لوري په مرکز او ولسوالیو کې د ۱۰ بابه کتابتونونو څخه څارنه تر سره شوې ده.
- د خوست ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې د ښوونیز نصاب ریاست له لوري د کلیوالي مدرسو د درې کلن کتابونو ازماینبتي تطبیق ترسره شوی دی.
- د خوست ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې دښوونکو د مسلکي پراختیا غړیو له لوري د سواد زده کړو د ۳۹۹ بابه کورسونو څخه څارنه تر سره شوې ده.
- دخوست ولایت پوهني ریاست د ساینس مدیریت غړو له لوري دلابراتوارونو د اړتیاوو معلوملو په موخه د مرکز اړوند ۶۸ بابه دولتي او۶۲ بابه خصوصي ښوونځیو د لابراتوارونو څخه حمایوي څارنه تر سره شوې ده.
- د ساینس مدیریت غړو له لوري په مرکز کې د۹۲ بابه لابراتوارونو او۸۹ بابه کمپیوترلیبونو د اغیزمنتوب او کارولو څخه څارنه او لېدنه تر سره شوې ده.
- د سواد زده کړې عمومي مدیریت له لوري دسواد زده کړې پروګرام د پلي کولو لپاره په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې ۲۶ تنه رضا کاران جذب شوي دي.
- دپوهني ریاست دتخنیکی غړو لخوا د واش او صحت په برخه ۶۰ تنه ښوونکو،مدیرانو او امرینو،مسلکی غړو او دټولو ولسوالیو دصحت برخې مسؤلینو ته سیمنار دایر شوی دی.
- دخوست ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې د سیمه ایزو خلکو او رضاکارانو له لوري د سواد کمیټو ۵۱۸ غونډې جوړې شوي دي.

### اسلامي زده کړې

- په خوست ولایت کې د ۱ باب موجود دارالعلوم د اداري او تدریسي چارو څخه بیا کتنه ترسره شوې ده.
- په خوست ولایت کې د اسلامي زده کړو اړوند ۱۵۱ بابه مدرسو او دارالحفاظونو د اداري او تدریسي چارو څخه کتنه تر سره شوې ده، چې د یادې کتنې په ترڅ کې ۲۵۹ اړتیاوې معلومې شوي دي.
- په خوست ولایت کې داسلامي زده کړو دعلما کرامو دمشترکې ازموینې لپاره دمختلفو دورو ۲۶۶۷ تنو علماکرامو فورمې ثبت شوي او دپوهني محترم وزارت داسلامي زده کړو محترم معینیت ته لیږل شوي دي.

### کیفیت تضمین

- د مرکز څخه راغلي دظرفیت لوړوني روزنیز ټیم له لوري دمرکز او ټولو ولسوالیو د دولتي او خصوصي ښوونځیو مسؤلینو او د مسلکي پراختیا غړیو ته داحصاییوي فورمو په اړوند درې وختې او څینې ولسوالیو کې شپږ ورځنۍ ورکشاپ دایر شوی دی. همدا راز دپوهني ریاست د احصایې او ایمیس مدیریت لخوا هم دمرکز او ولسوالیو داحصایې ترتیب کوونکو ته داحصایې په اته ډوله فورمو کې ۱۳ انفرادي ورکشاپونه ورکړل شوي دي.
- د تضمین کیفیت امریت داحصایې عمومي مدیریت له لوري د ۱۴۰۲ هـ ش کال د احصایې پروفایل ترتیب او د نشراتو ریاست سره شریک شوی دی.

- د تضمين کيفيت امريت داحصايي عمومي مديريت له لورې د ۱۴۰۳ هـ ش کال د احصايي پروفايل ترتيب او د نشراتو رياست سره شريک شوی دی.
- خوست ولايت کې د عمومي زده کړو برنامې اړوند ۳۲ بابه ښوونيزو مرکزونو مختصات اخيستل شوي دي.
- د نتايجو اوشهاتنامو عمومي مديريت له لورې ۵۶۶۵ شهادتنامې ترتيب، تدقيق، طی مراحل شوي دي.
- د دشهادتنامو عمومي مديريت له لورې د دولتي ښوونځيو د فارغانو د پايلو ۱۸۱جدولونه، د خصوصي ښوونځيو د فارغانو ۵۳ جدولونه او د سامع فارغانو د پايلو ۱۰۹۶جدولونه تدقيق، تطبيق او تاييد شوي دي.
- د څارنې،ارزونې او راپور ورکولو رياست څخه راغلي دوه نفري ټيم له لورې دپوهنې رياست مرکزي او ولسواليو پوهنې امريتونو ۲۹ تنه کارکوونکو ته دعملياتي پلان دپرمختګ څخه دراپور ترتيب کولو په برخه کې څلور ورځنی ورکشاپ داير شوی دی.
- د کيفيت د تضمين امريت دڅارنې، ارزونې او راپور ورکولو عمومي مديريت دڅارنې،ارزونې مسلکي غړو له لورې دترتيب شوي پلان مطابق دپوهنې رياست د مرکزي هستې دبرنامو د۲۲عمومي مديريتونو دپلانونو او کارونو دتطبيق څخه او همدا راز دمرکز او ولسواليو دپوهنې امريتونو او ښوونځيو څخه څارنه ترسره شوې ده چې ديادې څارنې راپوررونه ترتيب او اړوند مديريتونو،پوهنې امريتونو او ښوونځيو ته دشته نيمګړتياوو داصلاح په موخه ليږل شوي دي.
- د څارنې، ارزونې رياست څخه راغلي ټيم له لورې د خوست ولايت پوهنې رياست اړوند دهمکارو مؤ سسو له پروژو څخه څارنه تر سره شوې ده.
- دخوست ولايت په کچه دعملياتي پلان دتطبيق څخه دڅارنې په موخه دراپور ورکولو له سيستم څخه ګټه اخيستل شوې ده.
- دخوست ولايت په کچه دعملياتي پلان دپرمختګ اولاسته راوړنو ۴ ربعوار تشريحي راپوررونه ترتيب او د کيفيت تضمين معينيت دڅارنې، ارزونې او راپور ورکولو رياست سره شريک شوي دي.

## سرچينې او اداره

- په خوست ولايت کې دښوونکو صندوق رامنځته شوی دی،چې ۱۷۴ تنه ښوونکو ته دلومړي او دوهم قسط حوالې جوړې شوي دي.
- په خوست ولايت کې د ملکيتونو او ښوونځيو دساتنې او مراقبت عمومي مديريت له لورې د ۵ بابه ښوونځيو او مدرسو د جايدادونو لپاره د ملکيت سندونه جوړ شوي دي.
- په خوست ولايت کې دهغو سپينو او امارتي ځمکو تثبيت کولو باندې کار روان دی چې په هغو باندې پخوا دښوونځيو او مدرسو ودانۍ جوړې شوی او تر اوسه پورې دې وزارت ته نه دي انتقال شوي، چې پدې لړ کې ۱۱۲،۸۵جريبه ځمکه د املاکو او ښوونځيو دساتنې او مراقبت عمومي مديريت لخوا ثبت شوې ده.
- ۲ قضيې د مرکز اړوند شهيد مطيع الله لېسې او استقلال لېسې دمنازعاتو دحل په معلوماتي سيستم کې ثبت شوي او کار يې بشپړ شوی دی.

## رياست اړوند فعاليتونه

- دمرکز څخه ۲۲۰ ټوکه د عرفان مجلې، ۱۸۵ ټوکه د بخوان وبينديش مجلې او ۶۳۵ د پوهنې اونيزې رالېږل شوي دي چې دپوهنې رياست اړونده شعبو ته ويشل شوي دي.
- خوست ولايت ته د مرکز څخه د دعوت او ارشاد رياست کارکوونکو داړوند پروګرامونو د رسولو په موخه سفر تر سره کړی دی.

## انډوليز لاسرسی

### ښوونه او روزنه

- دخوست ولایت د مرکز او ۱۲ ولسوالیو د عمومي زده کړو په دولتي ښوونځیو کې۱۴۹۹۰ تنه نارینه او ۶۴۷۷ تنه ښځینه زده کوونکي جذب شوي دي. چې په دې جذب سره د خوست ولایت د عمومي زده کړو برنامې د دولتي ښوونځیو د زده کوونکو مجموعي شمیر ۲۳۲۵۱۵ تنو ته رسیږي چې ۶۸۷۵۷ تنه یې ښځینه دي.
- په صبریو او یعقوبیو ولسوالی کې ۱ باب لومړنی ښوونځی منځني ښوونځي ته، په باک ولسوالی کې ۱ باب لومړنی ښوونځی منځني ښوونځي ته او په سپېره ولسوالی کې ۱ باب منځنی ښوونځی لیسې ته لوړ شوي دي.
- په خوست ولایت کې د ۲ بابه خصوصي ښوونځیو نوم بدلون ترسره شوی، د ۱باب خصوصي ښوونځي انتقال ترسره شوی او ۱باب ښوونځی مدغم شوی دی.
- دخوست ولایت په سپیره او نادرشاه کوټ ولسوالیو کې د ښوونځیو جوړولو د ۲ پروژو همغږي ترسره شوې ده.
- دخوست ولایت په مرکز او ۱۲ولسوالیو کې له ۲۲۰ تنو بهر څخه راستینېدونکو څخه ازموینه اخېستل شوې او اړونده ټولګیو ته معرفي شوي دي. همدا راز ۳۶۵۷ تنه مجاهدین هم له ازموینې وروسته ښوونځیو ته معرفي شوي دي.
- د خوست ولایت په مرکز او ولسوالیو کې ۱۳ ځارندوی او ۴۹ ترافیک او اطفایې ټیمونه ایجاد او فعال شوي دي.
- په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې د جوماتونو له لارې دعامه پوهاوي۱۱۲ پروګرامونه تر سره شوي دي.
- د خوست ولایت د مرکز او ۱۲ ولسوالیو د سواد زده کړې په کورسونو کې ۷۰۳۹ تنه سواد زده کوونکي جذب شوي دي.
- دخوست ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې د رسمي ښوونکو له لارې د سواد زده کړې ۴۶۸ بابه کورسونه تاسیس شوي دي.
- په خوست ولایت کې ۱ باب خصوصي ښوونځی او ۲۳ بابه خصوصي کورسونه تاسیس شوي، د ۸ بابه خصوصي ښوونځیو او ۵ بابه خصوصي کورسونو جوازونه تمدید شوي، ۲ بابه خصوصي لومړني ښوونځي منځنیو ښوونځیو او ۲ بابه خصوصي منځني ښوونځي لېسې ته لوړ شوي دي.
- دخوست ولایت په کچه دخصوصي ښوونځیو د ۱۳ تنه نارینه زده کوونکو درې کلنو نمرو ته اعتبار ور کول شوی دی ترڅو په بهر کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي.
- ۴ تنه بیوزله زده کوونکي خصوصي ښوونځیو ته او ۲ تنه زده کوونکي مدرسې ته معرفي شوي دي.

## اسلامي زده کړې

- د خوست ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې د اسلامي زده کړو ۲۱۵ بابه رسمي بنسټونه تاسیس شوي او د ۲ بابه اسلامي زده کړو مرکزونو نوم تغیر شوی دی.
- دخوست ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې د ۲۱۰ بابه خصوصي مدرسو څخه څارنه تر سره شوې ده.
- د خوست ولایت د دارالعلوم په ۱۳ او ۱۴ ټولګیو کې ۲۸۵ تنه نارینه او ښځینه طالب العلمان او په لومړنی دوره کې یې ۴۰۴ تنه طالب العلمان نوي جذب شوي دي.
- د خوست ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې ۲۱۴ بابه د نارینه و مدرسې نوې ایجاد شوي دي.
- په مرکز او تنیو ولسوالي کې ۲ بابه کلیوالي مدرسې جوړې شوي دي.

## سرچینې او اداره

- په خوست ولایت کې دکارکوونکو چارو عمومي مدیریت له لوري ښوونځیو، ښوونیزو مرکزونو او اداري مرکزونو ته د تشکیل کوډونه لیږل شوي دي.
- په خوست ولایت کې دهمکارو موسسو له بودیجې څخه ۱۰ ساختماني پروژې په مرکز او ۷ ولسوالیو کې اعمار شوي دي.
- د خوست ولایت په ۳ ولسوالیو کې ۵ ترمیماتي پروژې د مؤسسو له بودیجې څخه ترمیم شوي دي.

- په خوست ولايت کې دمعارف پاله خلکو له لورې دښوونځيو او مدرسو دجوړولو په موخه ۴جريبه ځمکه وقف او دوقف خط په مورد يې اجراات ترسره شوي دي.
- دخوست ولايت په مرکز کې ۲ بابه ښوونځيو (شهيد مطيع الله او استقلال ليسې) د دعوې او غصب شويو جايدادونو دوسيې تعقيب شوي، دغصب څخه خلاصې شوي او کار يې بشپړ شوی دی.

### رياست اړوند فعاليتونه

- خوست ولايت ته دمرکز څخه راغلي مکتوبونه، فرمانونه او حکمونه په خپل وخت اړونده ادارو او کسانو ته ورکړل شوي،همدا راز دخوست ولايت پوهنې رياست اړونده مکتوبونه، وړانديزونه او نور اسناد وزارت مقام ته استول شوي دي.

## آغېزمن، روڼ او ځواب ويونکی مديريت

### ښوونه او روزنه

- په مرکز او ۱۲ ولسواليو کې د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختيا غړو لخوا د ۱۱۹ بابه ښوونځيو دشوراګانو له کارونو او د هغوی له آغېزمنتوب څخه څارنه ترسره شوې ده.
- د خوست ولايت په مرکز او ۱۲ ولسواليو کې د ښوونکو دمسلکي پراختيا ۱۲ مرکزونو، دعمومي زده کړو د دولتي او خصوصي ۴۹۴ بابه ښوونځيو، د سيمه ييزو زده کړو د ۲۱۰ بابه ټولګيو او دچټکو زده کړو د ۵۰ بابه ټولګيو څخه درې ځلې حمايوي څارنه ترسره شوې ده.
- په مرکز او ۱۲ ولسواليو کې دعمومي زده کړو د دولتي او خصوصي ښوونځيو د ۵۱۲۱ تنو ښوونکو، ۵۴۶ تنو سرښوونکو، ۲۳۴ تنو مديرانو او د ۲۴۴ تنو دسواد زده کړې ښوونکو څخه دوه ځلې مشاهدې ترسره شوي دي.
- دخوست ولايت په کچه دښوونکو مسلکي پراختياغړو له لورې ۱۰ علمي راپورونه ترتيب او وړاندې شوي دي.
- د اساسي او ثانوي زده کړو زده کوونکو له پاره چې له هيواد څخه بهر د زده کړې د دوام غوښتنه لري، ۴۳ ترانسکريپتونه او ۲۰۷ ښوونيز سوابق ترتيب شوي دي.
- په خوست ولايت کې دبيړني حالت زده کوونکواحصايه راټوله شوې ده چې له مخې يې ۳۴۲ تنه له بهر څخه بيرته راستنيدونکي زده کوونکي دي چې ازموينه ورڅخه اخيستل شوې او ښوونځيو ته معرفي شوي دي.
- په خوست ولايت کې د روغتيا نړيوال سازمان او خوړو نړيوال پروګرام په مرسته دکولمو چينجيو دله منځه وړلو ټوليز کمپاين ترسره شوي چې په پايله کې د۷۹۲ بابه عمومي او اسلامي زده کړو مرکزونه او ۳۶۰۰۰۰ تنه زده کوونکي ورڅخه مستفيد شوي دي.
- په مرکز او ۱۲ولسواليو کې دڅارندوی ټيمونو له لارې دمخدره موادو پر وړاندې دمبارزې ۱۱۶۵تبليغات ترسره شوي دي.
- د خوست ولايت په مرکز او ۱۲ ولسواليو کې د وړتياوو دمعلومولو او ملي او نړيوالو سياليو ته دمعرفي کولو په موخه ۱۳۱ ورزشي سيالۍ په لاره اچول شوي چې ۸۱ تنه ورزشکاران ترې انتخاب شوي دي.
- د سواد زده کړې پروګرمونو څخه دمرستې او ملاتړ د جلب په موخه د ولايت په کچه ۶ او د مرکز او ولسواليو په کچه ۶۸ سواد دکمېټو غونډې دايرې شوي دي.
- ۴ بابه خصوصي ښوونځي رسمي سپارل شوي دي او۵ تنه مديران په خصوصي ښوونځيو کې رسمي شوي دي.

### اسلامي زده کړې

- په خوست ولايت کې دمسلکي پراختيا غړو له فعاليتونو څخه څارنه او کنترول ترسره شوی دی.
- په خوست ولايت کې دقابليتونو د ارزونې رياست له خوا دعاليه او خامسه درجو د ۴۰۰ علماکرامو فورمې ډکې شوي او وزارت مقام ته ليږل شوي دي.

- په خوست ولایت کې د ۱۸۵ تنو ازموینه اخیستل شوې او فورمې یې وزارت ته لیږل شوي همدارنګه د ۱۲ټولګیو ۴۵۲ قطعه شهادتنامې ویشل شوي دي.

### سرچینې او اداره

- د کارکوونکو چارو عمومي مدیریت له لورې د خوست ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې ۱۴۶۵خالي بستونه په ډاګه او د استخدام ریاست سره شریک شوي دي.
- دخوست ولایت په کچه ۸۶۷ تنه کارکوونکي ثبت او راجستر شوي دي.
- د پوهنې ریاست اړوند ۱۳۸ تنه کارکوونکو ته دهویت کارتونه چاپ او ویشل شوي دي.
- د خوست ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې ۳۰۳ تنه کار کوونکي، ۹۹۱ تنه استادان او ۷۲۶ تنه ښوونکي نوي ګمارل شوي دي.
- د ۲۳۵۸ تنه ښوونکو د قدم لوړتیا تر سره شوي ده.
- په خوست ولایت کې په شرایطو برابر ۵۱ تنه کارکوونکي تقاعد شوي دي.
- خوست ولایت کې د راتلونکي امنیتي پیښو دمخنیوي په موخه دخدماتو مدیریت له لورې ۱ کلنی، ۴ ربعوار او ۱۲میاشتني امنیتي راپورونه ترتیب او راټول شوي دي.
- دخوست ولایت په کچه ۱۴ساختماني اساسي پروژو او ۱۰ترمیماتي پروژو دتطبیق له بهیر څخه څارنه ترسره شوې ده.
- په خوست ولایت کې ۳۸ دربنده حویلی په کرایه نیول شوي دي چې دقراردادونو چارو څخه یې څارنه او مدیریت ترسره شوی دی.

### ریاست مقام اړوند فعالیتونه

- ۴ تفاهم نامې د پوهنې محترم وزارت او مؤسسو ترمنځ لاسلیک شوي دي،چې د وایفا، د افغانستان بنسټیز ودانولو(ODIA)، اراده او ابرار موسسې دي،چې یادې تفاهم نامې دخوست ولایت پوهنې ریاست ته رسماً را استول شوي دي.
- د مرکز څخه خوست ولایت پوهنې ریاست ته ۶۹ فرمانونه، حکمونه او مصوبې او۳۰۰۷ مکتوبونه راغلي چې په خپل وخت اړونده شعبو ته تکثیر شوي دي. همدا راز د خوست ولایت پوهنې ریاست څخه ۴۴۰۲ مکتوبونه او ۴۱۹ وړاندیزونه وزارت مقام ته لیږل شوي دي او ۱۲متحدالمال او متفرقه مکتوبونه تعقیب شوي دي.
- د خوست ولایت په کچه ۱۰۹ راپورونه راټول او وزارت مقام ته استول شوي دي. همدارنګه د وزارت مقام څخه ۱۶ ټاکل شویو ټیمونو خوست ولایت ته سفرونه کړي دي او د ولایت پوهنې ریاست دخدماتي کارکوونکو۲۴سندونه طی مراحل شوي دي.
- دخوست ولایت څخه ۴۴۰۲ سندونه وزارت مقام ته استول شوي دي چې ۴۴۰۲ د ولایتي همغږی ریاست دکارپوهانو له لورې کارشناسي شوي او دفتر ریاست او معینیتونو ته راجع شوي دي.
- په خوست ولایت کې ۱۰دکوچیانو دښوونیزو چارو ملاتړ او تقویتي پروګرامونه تنظیم شوي دي.
- دخوست ولایت پوهنې ریاست اړوند شعبو ته د رهبری ۲پریکړې او ۷خاص هدایت تکثیر او ابلاغ شوي دي.
- دخوست ولایت دپلان عمومي مدیریت له لورې د ولایت په کچه ۱ عملیاتي پلان او د ولایت د مرکز او ولسوالیو په کچه ۱۳ عملیاتي پلانونه تهیه،ترتیب او بشپړشوي دي.
- د پلان عمومي مدیریت له لورې ۲۸ کانسپټ نوټونه د۲۷بابه ښوونځیو او ۱ باب مدرسې لپاره چې تعمیرونو او نورو ملحقاتو ته یې اړتیاوې درلودې ترتیب شوي دي.
- د دعوت او ارشاد کارکوونکو له لورې دخوست ولایت په مرکزي هسته کې ۱۷۳ تنو کارکوونکو ته دمختصر نصاب تدریس تر سره شوی دی او اصلاحي پروګرامونه پلي شوي دي.

### د پام وړ ستونزې او حل لارې

- د عملياتي پلان دفعاليتونو پربنسټ د ظرفيت لوړولو او روزنيزو ورکشاپونو لپاره دبوديجې او امکاناتو نه شتون ؛ دعملياتي پلان روزنيزو ورکشاپونو لپاره دې بوديجه او امکانات برابر شي ترڅو دا فعاليتونه ترسره شي.
- د نتايجو او شهادتنامو عمومي مديريت د انټرنېټ کمزورتيا ستونزه لري، انټرنېټ دې ورته قوي شي.
- د منظم ترانسپورټ نشتون، د ترانسپورټ امکانات دې برابر شي.
- دسواد زده کړې ښوونکو تشکيل کمبود، دسواد زده کړې پروګرام لپاره دې دښوونکو تشکيل او بودجه زياته شي.
- د پوهنې محترم وزارت اړوند دځينو فعاليتونو پروخت نه اجرا کيدل، هيله ده چې پروخت دمحترم وزارت دمحترمو ټيمونو له لورې اجرا شي.

## دويمه برخه

## د پوهنې د درې ګونو عرصو پر بنسټ د عملیاتي پلان د کړنو پرمختګ

### لومړۍ برخه: کیفیت او تړاو

**تولیزه موخه:** زده کوونکي به په ټولو کچو کې پوهه، مهارتونه، چلندونه او ارزښتونه چې د یو سالم، مسؤلیت منونکي، رشید، او تولیدونکي وګړي لپاره اړین دي ترلاسه کړي او هغوئ به د ټولنیزې هوساینې په بهیر کې د آغېزمنې ونډې اخیستنې او ګډون لپاره چمتو او په کورنیو او نړیوالو بازارونو کې به د خوندي او دوامداره دندې لپاره سمبال شي.

#### ۱. پروګرام: ښوونه او روزنه

**۱.۱ فعالیت: د خوست ولایت اړوند ښوونځیو دکتابتونونو د کتابدارانو د اړتیاوو ارزونه او ظرفیت لوړول(۱۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دخوست ولایت پوهنې ریاست د مسلکي پراختیا غړو له لورې په مرکز او ولسوالیو کې د ۱۰ بابه کتابتونونو څخه څارنه تر سره شوې ده.

**۲.۱ فعالیت: په خوست ولایت کې د کلیوالي مدرسو د درې کلن کتابونو ازمایښتي تطبیق(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دخوست ولایت په مرکز او۱۲ ولسوالیو کې د ښوونیز نصاب ریاست له لورې دکلیوالي مدرسو د درې کلن کتابونو ازمایښتي تطبیق تر سره شوی دی.

**۳.۱ فعالیت: د عمومي زده کړو، اسلامي زده کړو او سواد زده کړې د اړتیاوو د ارزونې موندنو پر بنسټ د ښوونیزو موادو پراختیا(۵۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د خوست ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې دښوونکو دمسلکي پراختیا غړیو له لورې د سواد زده کړو د ۳۹۹ بابه کورسونو څخه څارنه تر سره شوې ده.

**۴.۱ فعالیت: د ولایتونو په کچه د علمي غړو (مربیانو) ظرفیت لوړول(۱۰۹)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د مرکز څخه د روزنې ټیم نه دی راغلی. او د ولایتي ټیم له لورې هم د بودیجې د نه شتون له امله روزنیز پروګرامونه په لاره نه دي اچول شوي.

**۵.۱ فعالیت: د علمي افکارو، مسؤلیت منلو او ښه چلند په برخه کې په مرکز او ولایتونو کې د ښوونکو، مدیرانو او د ښوونځیو د اداري شوراګانو او علمي غړو لپاره د ظرفیت لوړولو د پروګرامونو ترتیبول(۱۰۹)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د خوست ولایت د مرکز او ټولو ولسوالیو دښوونکو روزنې او مسلکي پراختیا ۱۷۰ تنو غړو دعلمي افکارو، مسؤلیت منلو او ښه چلند په برخه کې دظرفیت لوړولو پروګرام څخه مستفید شوي دي.

**۶.۱ فعالیت: کارکوونکو ته د جواز ورکولو د سیستم د پلي کیدو په موخه لازم چمتوالي(۱۰۹)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د مرکز له لورې د خوست ولایت کار کوونکو ته دجواز ورکولو دسیستم دپلي کیدو په موخه زده کړې نه دي ورکړل شوي.

**۷.۱ فعالیت: د لابراتوارنو د اړتیاوو معلوملولپاره سروې او په مرکز او ولایتونو کې د ترسره شوو پروګرامونو حمایوي څارنه(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دخوست ولایت پوهنې ریاست د ساینس مدیریت غړو له لورې دلابراتوارونو داړتیاوو معلوملو په موخه د مرکز اړوند ۶۸ بابه دولتي او۶۲ بابه خصوصي ښوونځیو د لابراتوارونو څخه حمایوي څارنه تر سره شوې ده.

**۸.۱ فعالیت: د لابراتوارونو او کمپیوټرونو اغیزمنتوب او کارولو څخه څارنه او لیدنه(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د ساینس مدیریت غړو له لورې په مرکز کې د۹۲ بابه لابراتوارونو او ۸۹ بابه کمپیوټرلیبونو د اغیزمنتوب او کارولو څخه څارنه اولیدنه تر سره شوې ده.

**۹.۱ فعالیت: د ساینس ولایتي مدیریتونو علمي غړو او لابرانت لپاره د ساینس، ریاضي او کمپیوټر برخه کې د روزنیزو پروګرامونو تنظیمول(۹)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دمرکزي ټیم له لورې دساینس ولایتي مدیریتونو علمي غړو او لابرانت لپاره دساینس، ریاضي او کمپیوتر په برخو کې روزنیز پروګرامونه نه دي تنظیم شوي. مګر د ساینس مرکز غړو له لورې د۲۶ تنو ریاضي او ساینس ښوونکو څخه لیدنه تر سره شوې ده.

**۱۰.۱ فعالیت: د پوښښ لاندې ښوونځیو ښوونکو لپاره د اشارې ژبې او بریل برخه کې د روزنیزو ورکشاپ دایرول(۴۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د بودیجې د نه شتون له امله په خوست ولایت کې دښوونځیو ښوونکو لپاره د اشارې ژبې او بریل په برخه کې روزنیز ورکشاپونه نه دي دایر شوي.

**۱۱.۱ فعالیت: د معلولیت لرونکو ماشومانو د حقونو په اړه د زده کونکو، ښوونکو او د ښوونځیو د اداري غړو د ظرفیت لوړول(۷۵۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د بودیجې د نه شتون له امله په خوست ولایت کې دمعلولیت لرونکو ماشومانو دحقونو په اړه زده کوونکو، ښوونکو او دښوونځیو داداري غړو لپاره دظرفیت لوړولو پروګروامونه نه دي چمتو شوي.

**۱۲.۱ فعالیت: مسلکي غړو له خوا دکابل ښار او په ولایتونو کې د ریاست د تخنیکي غړو لخوا د واش (WASH) Dewormin په برخه کې د څارونډی د تروپ ګروپونو او بدني روزنې ښوونکو لپاره د سیمینارونو او ورکشاپونو دایرول(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د ریاست د تخنیکي غړو لخوا د واش،Deworming اوصحت په برخه کې ۶۰ تنو ښوونکو،مدیرانو ، امرینو، مسلکي غړو او دټولو ولسوالیو دصحت برخې مسؤلینو لپاره سمینار او ورکشاپ دایر شوی دی.

**۱۳.۱ فعالیت: د ځاني ارزونې له مخې د قابلیتونو د ارزونې په برخه کې د ولایتونو او کابل ښار په ګډون د لازم ظرفیت رامنځته کول او د سواد زده کړې د پروګرامونو د کیفیت د ښه والي لپاره د لازمو لارښوونو ترتیبول او ملي کول(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د مرکز له لورې کومې لارښوونې ندی ترتیب شوي.

**۱۴.۱ فعالیت: د مرکز په کچه د سواد زده کړو د پروګرامونو د ښه تطبیق په موخه، د ترتیب شویو لایحو، طرزالعملونو او لارښودونو د معرفي په هکله د روزنیز ورکشاپ په لاره اچول(۲)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د مرکز له لورې په خوست ولایت کې دسواد زده کړو دپروګرامونو دښه تطبیق په موخه دترتیب شویو لایحو، طرزالعملونو او لارښوونو دمعرفي په هکله کوم روزنیز ورکشاپ په لاره نه دی اچول شوی.

**۱،۱۵ فعالیت: د سواد زده کړې پروګرام د پلي کولو لپاره د سرچینو تشخیص او ترلاسه کول، د دولتي، غیر دولتي بنسټونو او رضاکارانو ملاتړ ترلاسه کول(۱۳)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د سواد زده کړې عمومي مدیریت له لورې دسواد زده کړې پروګرام دپلي کولو لپاره په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې ۲۳ تنه رضا کاران جذب شوي دي.

**۱٦.۱ فعالیت: د سیمه ییزو خلکو (رضا کارانو) له لارې د خوست ولایت په کچه د ولایتونو د پوهنې په ریاستونو کې د کلیو د سواد زده کړې کمېټو د غونډو جوړول(٦۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دخوست ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې د سیمه ایزو خلکو او رضاکارانو له لورې د سواد کمیټو ۵۱۸ غونډې جوړې شوي دي.

**۱,۱۷ فعالیت: د خصوصي ښوونځیو د حق الشمول او حق الاجرت (فیس) د درجې او اندازې ټاکلو تثبیتول(۵۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې دخصوصي ښوونځیو د حق الشمول او حق الاجرت د درجې او اندازې ټاکلو او تثبیت کولو په موخه کمیسیون نه دی ایجاد شوی.

## ۲. اسلامي زده کړې

**۱.۲ فعالیت: دارالعلوم ته د مدرسو لوړول(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د معیار د نه پوره کولو له امله په خوست ولایت کې هیڅ مدرسه دارالعلوم ته نه ده لوړه شوې.

**۲,۲ فعالیت: د دارالعلومونو د اداري او تدریسي چارو د بیا کتنې او ارتیاؤ معلوملو په موخه د علمي او تدریسي غړو لېږل(۵۷)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې د ۱ باب موجود دارالعلوم د اداري او تدریسي چارو څخه دوه ځلې بیا کتنه تر سره شوې او یوه اړتیا یې معلومه شوې ده.

**۲,۳ فعالیت: په خوست ولایت کې د نویو مقرر شویو کارکوونکو د ظرفیت لوړولو په موخه د لارښوونې سیمینارونو دایرول(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د مرکز څخه کوم ټیم خوست ولایت ته د نویو مقرر شویو کارکوونکو دظرفیت لوړولو په موخه نه دی راغلی.

**۲,۴ فعالیت: په خوست ولایت کې د اسلامي زده کړو اړوند مدرسو او دارالحفاظونو د اداري او تدریسي کارونو د بیاکتنې او اړتیاؤ معلوملو په موخه د علمي او تدریسي غړو ورلیږل(۵۷)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې د اسلامي زده کړو اړوند ۱۵۱بابه مدرسو او دارالحفاظونو د اداري او تدریسي چارو څخه کتنه تر سره شوې ده، چې د یادې کتنې په ترځ کې ۲۵۹ اړتیاوې معلومې شوي دي.

**۲,۵ فعالیت: په شته ډیټابیس کې د علماء کرامو د ازموینو ثبتول(۵۱۴)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې داسلامي زده کړو دعلما کرامو دمشترکې ازموینې لپاره دعالمیه، عالیه، مافوق الثانویه او الثانویه دورو ۲٦٦۷ تنو علما کرامو فورمې ثبت شوي او دپوهنې محترم وزارت داسلامي زده کړو محترم معینیت ته لیږل شوي دي.

**۲,٦ فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د مدرسو او دارالحفاظونو استادانو ته د نویو درسي کتابونو د وروپیژندلو په موخه د ورکشاپ دایرول(۲۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د مرکز له لورې د خوست ولایت د مدرسو او دارالحفاظونو استادانو ته د نویو درسي کتابونو د ورپیژندلو په موخه ورکشاپ نه دی دایر شوی.

**۲,۷ فعالیت: د مدرسو فارغین په عالیه او عالمیه ازموینو کې ثبتول(۵۷)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې دعالیه او عالمیه دورې مدرسې دشیخ زاید پوهنتون سره ثبت شوي دي، چې ۱۳۷۷ تنو زده کوونکو په عالیه او عالمیه درجو دامتحان لپاره ثبت نام کړی او دعالیه او عالمیه دورو امتحان شیخ زاید امارتي پوهنتون اخیستی دی.

## ۳. د کیفیت تضمین

### ۱.۳ فعالیت: د ولایتونو او ولسوالیو په کچه د کیفیت لرونکو احصاییوي ارقامو راټولولو په موخه د ظرفیت لوړونې ورکشاپونو په لاره اچول(۲۲)

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د ظرفیت لوړونې مرکزي روزنیز ټیم له لورې د خوست ولایت په مرکز او ټولو ولسوالیو کې دامارتي او خصوصي ښوونځیو مسؤلینو او یو،یو تن د مرکز او ولسوالیو دښوونکو مسلکي پراختیا ټیم لیډر ته داحصاییوي فورمو اړوند درې ورځنی او څینو ولسوالیو کې شپږ ورځنی ورکشاپونه دایر شوي دي. همدا راز دپوهنې ریاست دتضمین کیفیت امریت داحصایې او ایمیس مدیریت کارکوونکو لخوا دمرکز او ولسوالیو احصایې ترتیب کوونکو، پوهنې امرینو او اسلامي زده کړو کارمندانو ته داحصایې د اته ډوله فورمو په هکله ۱۳ انفرادي ورکشاپونه په لاره اچول شوي دي.

### ۳،۲ فعالیت: د هیواد په کچه د ۱۴۰۲ هـ ش کال احصاییوِي ارقامو ۱۰۰٪ کتنه او تصدیق(۱)

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د۱۴۰۲ ه.ش کال احصائیوي ارقامو ۱۰٪ کتنه او تصدیق ترسره شوی دی.

### ۳،۳ فعالیت: د ډیتاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بنه د ۱۴۰۲ هـ ش کال د احصایې ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول(۱)

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د کیفیت تضمین امریت داحصایې عمومي مدیریت له لورې د ۱۴۰۲ هـ ش کال د احصایې پروفایل ترتیب او د نشراتو ریاست سره شریک شوی دی.

### ۳،۴ فعالیت: د ډیتاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بنه د ۱۴۰۳ هـ ش کال د احصایې ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول(۱)

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د کیفیت تضمین امریت داحصایې او ایمیس عمومي مدیریت له لورې د۱۴۰۳ کال داحصایې پروفایل ترتیب او د نشراتو ریاست سره شریک شوی دی.

### ۳،۵ فعالیت: د نویو تاسیس شویو او د تېرو کلونو د پاتې ښوونځیو د مختصاتو راټولول(۲۱٦)

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د خوست ولایت د عمومي زده کړو برنامې اړوند ۳۲ بابه تعلیمي مرکزونو مختصات(GPS)نقطې اخیستل شوي دي.

### ۳،٦ فعالیت: د بري لیکونو/شهادتنامو ترتیب، تدقیق، طی مراحل او وېشل(۱۹۰۲)

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د کیفیت د تضمین برنامې د نتایجو اوشهاتنامو عمومي مدیریت له لورې ۵٦٦۵ شهادتنامې ترتیب، تدقیق، طی مراحل او د مرکز، نادرشاه کوټ، اسمعیل خیلو او مندوزیو، تنیو، موسی خیلو، صبریو اویعقوبیو ، باک ، ځاځی میدان ، گربزو،سپېرې او تریزایي اوعلیشیرو ولسوالیو ته وېشل شوي دي.

### ۳،۷ فعالیت: د ولایتونو پوهنې ریاستونو ته د سپینو بري لیکونو/شهادتنامو وېشل(۲۵۰۰)

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د مرکز څخه ٦۷۷۸سپینې شهادتنامې خوست ولایت ته رالېږل شوي دی.

### ۳،۸ فعالیت: د دولسم او څوارلسم ټولگیو د فارغانو د نتایجو جدولونو تدقیق، تطبیق او تاییدول(۲۱۰)

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دشهادتنامو عمومي مدیریت له لورې د امارتي ښوونځیو د فارغانو د پایلو ۱۸۱جدولونه، د خصوصي ښوونځیو د فارغانو ۵۳ جدولونه او د سامع فارغانو د پایلو ۱۰۹٦جدولونه تدقیق، تطبیق او تایید شوي دي.

### ۳,۹ فعاليت: د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو په برخه کې فردي او نهادي ظرفيت لوړونه(۱۴)

د ۱۴۰۳ مالي کال په جريان کې  د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو رياست څخه خوست ولايت ته د راغلي روزنيز ټيم له لورې دپوهنې رياست مرکزی هستې او ولسواليو پوهنې امريتونو  ۲۹ تنه کارکوونکو ته د عملياتي پلان دپرمختګ څخه دراپور ترتيب کولو په برخه کې څلور ورځنی ورکشاپ داير شوی دی.

### ۱۰.۳ فعاليت:  د خوست ولايت پوهنې رياست د فعاليتونو او پلانونو له تطبيق څخه ربعواره څارنه(۱)

د ۱۴۰۳ مالي کال په جريان کې دخوست ولايت د فعاليتونو او پلانونو له تطبيق څخه د څارنې په موخه له مرکز څخه ټيم راغلی دی او دپوهنې دپلانونو او فعاليتونو دتطبيق څخه څارنه کړی ده. همدا راز دتضمين کيفيت امريت دڅارنې او ارزونې عمومي مديريت دڅارنې او ارزونې مسلکي غړيو له لورې دترتيب شوي پلان مطابق دپوهنې رياست دمرکزي هستې دبرنامو او ۲۲ عمومي مديريتونو دپلانونو او کارونو دتطبيق او همدا راز دمرکز او ولسواليو دپوهنې امريتونو او ښوونځيو څخه څارنه تر سره شوې ده، چې د يادې څارنې راپورونه ترتيب او اړوند مديريتونو،پوهنې امريتونو او ښوونځيو ته د شته نيمګړتياوو د اصلاح  په موخه ليږل شوي دي.

### ۱۱.۳ فعاليت:  د خوست ولايت پوهنې رياست اړوند د پوهنې وزارت د همکارو مؤسسو له پروژو څخه څارنه(۱)

د ۱۴۰۳ مالي کال په جريان کې دخوست ولايت  پوهنې رياست اړوند د همکارو مؤسسو له پروژو څخه د څارنې په موخه له مرکز څخه ټيم راغلی دی او دهمکارو مؤسسو له پروژو څخه يې څارنه تر سره کړې ده. همدا راز دڅارنې،ارزونې او راپور ورکولو مديريت دڅارنې او ارزونې مسلکي غړيو له لورې دهمکارو مؤسسو دټولګيو څخه څارنه ترسره شوې ده.

### ۱۲.۳ فعاليت:  د عملياتي پلان له تطبيق څخه د څارنې او ارزونې په موخه  د راپور ورکولو سيستم استفاده کول(۱)

د ۱۴۰۳ مالي کال په جريان کې د خوست ولايت  په کچه د علمياتي پلان د تطبيق  څخه د څارنې په موخه د راپور ورکولو له سيستم څخه استفاده تر سره شوې ده.

### ۱۳.۳ فعاليت:   د ۱۴۰۳ کال  لپاره د عملياتي پلان او د باثباته پراختيايي موخو پر بنسټ د خوست ولايت پوهنې رياست له کلنی کړنو څخه د ارزونې ترسره کول(۱)

د ۱۴۰۳ مالي کال په جريان کې د خوست ولايت د عملياتي پلان د  ارزونې په موخه  د مرکز څخه د ارزونې ټيم راغلی او د پوهنې رياست څخه يې ارزونه ترسره کړې ده.

### ۱۴.۳ فعاليت:  د عملياتي پلان د راپور ورکولو آنلاين سيستم پراختيا او تطبيق(۱)

د ۱۴۰۳ مالي کال په جريان کې په خوست ولايت کې دعملياتي پلان څخه دراپور ورکولو انلاين سيستم  فعال شوی دی.

### ۱۵.۳ فعاليت:  د چمتو شوي فارمټ سره سم، د ولايتونو په کچه د پلانونو د پرمختګ او لاسته راوړنو ربعوار راپورونو راټولول(۴)

د ۱۴۰۳ مالي کال په جريان کې دخوست ولايت په کچه دعملياتي پلان دپرمختګ اولاسته راوړنو ۴ ربعوار تشريحي راپورونه ترتيب اود تضمين کيفيت محترم معينيت  دڅارنې،ارزونې او راپور ورکولو محترم رياست  سره شريک  شوي دي.

### ۱۶.۳ فعاليت:  د ښوونيز کال په پيل او پای  او دوو پړاوونو کې د ښېرو سړو ولايتونو په ښوونځيو کې په پرتله اييزه توګه د دريم ټولګي د زده کوونکو د لوستلو د کچې ارزول(۱)

د ۱۴۰۳ مالي کال په جريان کې په پرتله اييزه توګه د دريم ټولګي د زده کوونکو د لوستلو کچې د ارزولو په موخه   دمرکز څخه د ارزونې ټيم په ۷-۷-۱۴۰۳نيټه خوست ولايت ته  د ياد فعاليت د تر سره کولو په موخه سفر تر سره کړی دی.

### ۱۷.۳ فعاليت:  په خوست ولايت کې د شپږم ټولګي د رياضي مضمون د ازمويني د پارچو ارزونه(۱)

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دشپږم ټولګي د ریاضي مضمون د ازموینې پارچو ارزونې په موخه د مرکز څخه د ارزونې ټیم خوست ولایت ته راغلی او یاد فعالیت ترسره شوی دی.

**۱۸.۳ فعالیت: د خوست ولایت په کچه د تقنیني اسنادو او پالیسیو د تطبیق د وړتیا ارزونه او تجربوي تطبیق(۱۰۰٪)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د مرکز له لورې دخوست ولایت په کچه دتقنیني اسنادو او پالیسیو دتطبیق د وړتیا ارزونه او تجریوي تطبیق نه دی تر سره شوی.

**۱۹.۳ فعالیت: د خوست ولایت په کچه د تقنیني سندونو او پالیسیو په برخو کې د کارکوونکو روزل او ظرفیت لوړونه(۱۰۰٪)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د مرکز څخه کوم ټیم دخوست ولایت په کچه د تقنیني سندونو او پالیسیو په برخو کې د کارکوونکو روزلو او ظرفیت لوړونې په موخه نه دی راغلی.

## ۴. سرچینې او اداره

**۱.۴ فعالیت: د هیواد په ٦ ولایتونو (خوست، قندهار، بخدشان، غزنی، پنجشیر او جوزجان) کې د ښوونکو صندوق رامنځ ته کول(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې د ښوونکو صندوق رامنځته شوی دی، چې ۱۷۴ تنو ښوونکو ته درېځ قسطه اجرا شوي دي.

**۴,۲ فعالیت: د خوست ولایت په کچه د مالي چارو په برخه کې د کارکوونکو د ظرفیت لوړول(۵)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د مرکز څخه د روزنې کوم ټیم د مالي چارو په برخه کې د کارکوونکو د ظرفیت لوړولو په موخه خوست ولایت ته سفر نه دی تر سره کړی .

**۴,۳ فعالیت: د پوهنې وزارت د اداري کارکوونکو له پاره د ظرفیت لوړولو د استراتیژۍ طرحې جوړول(۱۰۰٪)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د وزارت مقام څخه په دې هکله کومه طرحه نه ده رالېږل شوې.

**۴,۴ فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د کارکوونکو د سوانحو دفترونو تدقیق، تصحیح، تطبیق او بریښنایي کول(۱۰۰٪)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې دسوانح مدیریت له لورې د کار کوونکو دسوانحو دفترونو تدقیق، تصحیح، تطبیق، ترتیب ، خانه پرۍ او کمپیوتر کې ثبت شوي دي، مګر دانلاین سیستم دنه درلودلو له امله الکترونیکي شوي نه دي.

**۴,۵ فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د مدرسو او ښوونځیو د جایدادونو له پاره د ملکیت سندونو جوړول(۱۵)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د خوست ولایت د ٦ بابه ښوونځیو (په ځاځي میدان ولسوالۍ کې دسوه کي لومړني ښوونځي، په سپېره ولسوالۍ کې د کوټکۍ لومړني ښوونځي، په موسی خیلو ولسوالۍ کې د سن موسی خیل منځني ښوونځي، په مرکز کې نجم المدارس د دینی زده کړو مدرسې، پوهاند عبدالحی حبیبې لیسې او خوست جهادی مدرسې) د جایدادونو لپاره د ملکیت سندونه جوړ شوي دي.

**۴,٦ فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د اداري ځایونو او روزنیزو مرکزونو د ودانیو، ترمیمولو او احاطو سجل کول(۲۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې ۲ تعمیرونه چې د مرکز اړوند دقلموال مېنې منځني ښوونځي، دقلندر مربوط کمرون ابتدایه ښوونځی او۱ محوطه ، همدا راز دفلندرولسوالی کمرون او دمرکز بی بی حلیمه ۲بابه ښوونځیو ترمیم سجل تر سره شوی دی.

**۴,۷ فعالیت: د املاکو په دفترونو او معلوماتي سیستم کې د ملکیتونو د سندونو او سجلو ثبتول او د هغو فایلبندي(۲۷)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د تعلیمي مرکزونو دمحوطو او دترمیم شویو تعلیمي مرکزونو د ترانسپورت نه شتون له امله په خوست ولایت کې د املاکو په دفترونو او معلوماتي سیستم کې دملکیتونو دسندونو او سجلو ثبتول او دهغوی فایلبندي نه ده تر سره شوي.

**۴,۸ فعالیت: د هغو سپینو او امارتي ځمکو تثبیتول چې په هغو باندې پخوا د ښوونځیو او مدرسو ودانۍ جوړې شوي او تر اوسه پورې دې وزارت ته دي انتقال شوي(۷۰ جریبه)**

په خوست ولایت کې دهغو سپینو او امارتي ځمکو تثبیت کولو باندی کار روان دی چې په هغو باندې پخوا دښوونځیو او مدرسو ودانی جوړې شوي او تر اوسه پورې دې وزارت ته نه دي انتقال شوي، چې ۱۱۲,۸۵جریبه(۱۱۲ اعشاریه۸۵ جریبه) ځمکې په څلورو ولسوالیو کې داملاکو او ښوونځیو دساتنې او مراقبت عمومي مدیریت لخوا تثبیت شوي دي.

**۴,۹ فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د غصب، شویو، نیول شویو اودعوایي ځمکو بررسي او د قضیوراټولول او د منازعاتو د حل په معلوماتي سیستم کې ثبتول(۱۳)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د خوست ولایت په کچه دغصب شویو،نیول شویو او دعوایي ځمکو بررسي دکار لاندې ده او ۲ قضیې د مرکز اړوند شهید مطیع الله لېسې او استقلال لېسې دمنازعاتو دحل په معلوماتي سیستم کې ثبت شوي او کار یې بشپړ شوی دی.

## ۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور)

**۱.۵ فعالیت: د امیرالمؤمنین د فرمانونو او د ریاست الوزرا ، وزیرانو شورا او پوهنې وزارت مشرتابه له حکمونو او لارښوونو څخه ډاډ تر لاسه کولو په موخه سفر تر سره کول(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د امیرالمؤمنین دفرمانونو او د ریاست الوزرا، وزیرانو شورا او پوهنې وزارت مشرتابه له حکمونو او لارښوونو څخه ډاډ تر لاسه کولو په موخه د مرکز څخه خوست ته کوم هیئت سفر نه دی تر سره کړی.

**۵,۲ فعالیت: د عامه پوهاوي او چاپي خپرونو چاپ او ویش(۳۶۰۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د مرکز څخه ۲۲۰ ټوکه د عرفان مجلې، ۱۸۵ ټوکه د بخوان وبیندیش مجلې او ۶۳۵ د پوهنې اونیزې خوست ولایت پوهنې ریاست ته رالیږل شوي، چې دپوهنې ریاست اړوند شعبو ته ویشل شوي دي.

**۵,۳ فعالیت: د پوهنې د یوکلني کړنې په هکله د کتابونو چاپ(۴۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د وزارت څخه د پوهنې د یو کلني کړنې کتاب نه دی رالېږل شوی.

**۵,۴ فعالیت: د ولایتونو، ولسوالیو او ښوونځیو په کچه د درسي کتابونو د ویشلو له پروسې څخه تخنیکي کتنه(۷)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د مرکز څخه کوم ټیم د درسي کتابونود ویشلو له پروسې څخه د تخنیکي کتنې په موخه نه دی راغلی.

**۵,۵ فعالیت: د هیواد په کچه په پښتو او دري ژبه د سواد زده کړې د ۱۰۲۵۰ ټوکه درسي کتابونو چاپ او ویش**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د مرکز څخه د سواد زده کړې درسي کتابونه نه دي رالېږل شوي.

**۵,۶ فعالیت: د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود د ۲۱۲۵ ټوکه درسي کتابونو ویش**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د مرکز څخه د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود کتابونه نه دي رالېږل شوي.

**۵,۷ فعالیت: په مرکز کې د استهلاک شویو کتابونو د لیلام چارو تعقیبول او د ولایتونو د نشراتو مدیرانو له لورې د کارونو د پړاوونو بشپړول(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د پوهنې وزارت له خوا دهدایت نه کیدو له امله په خوست ولایت کې د کتابونو د لیلام چارو کارونه نه دي بشپړ شوي.

**۵,۸ فعالیت: د پلټنې په برخه کې د ولایتي او مرکزي کارکوونکو لپاره د روزنیزو پروګرامونو په لاره اچول(۵)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د خوست ولایت د کارکوونکو د روزنې په موخه  د مرکز پلټنې ریاست څخه د روزنې ټیم نه دی راغلی.

**۵،۹ فعالیت:  د اړونده پروګرامونو د رسولو په موخه  ولایتونو ته د دعوت او ارشاد ریاست د کارکوونکو سفر کول(۲)**

د ۱۴۰۳ مالي  کال په جریان کې خوست ولایت ته د مرکز څخه د دعوت او ارشاد ریاست کارکوونکو  د اړونده  پروګرامونو درسولو په موخه سفر تر سره کړی دی.

## دویمه برخه: انډولیز لاسرسی

**تولیزه موخه:** په هېواد کې د ماشومانو، ځوانانو او لویانو، نجونو او ښځو  لپاره کیفیت لرونکي او خوندي زده کړو فرصتونو ته د انډولیز او ټول ګډونه لاس رسي زیاتوالی.

### ۱. ښوونه او روزنه

**۱.۱ فعالیت: د هېواد په کچه د ښوونکو د مسلکي پراختیا په موخه د اړونده پروګرامونو د تطبیق له څرنګوالي څخه څارنه(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دخوست ولایت مرکز کې دښوونکو دمسلکي پراختیا پروګرامونو دتطبیق له څرنګوالي څخه ۱ ځل څارنه ترسره شوې ده.

**۲.۱ فعالیت: د ولایتونو په کچه د ټرل شویو ښوونځیو د بیا پرانستلو او برخلیک ټاکلو په اړه لازم اقدامات(۱)**

په خوست ولایت کې ټړلي ښوونځي  شتون نه لري.

**۳.۱ فعالیت: د فزیک، کیمیا، بیولوژي، ریاضي او محیطي ساینس په برخو کې د شته کمپیوتر لبو او لابراتوارونو تجهیزول او رامنځته کول(۴)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د بودیجې او امکاناتو د نه شتونه له امله په خوست ولایت کې کوم کمپیوټر لیب او لابراتوار نه دی تجهیز شوی.

**۴.۱ فعالیت: په دولتي ښوونځیو کې د خوست ولایت په کچه  د ۲۹۱۱۰ جدیدالشمول زده کوونکو جذبول**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دخوست ولایت  د مرکز او ۱۲ ولسوالیو د  عمومي زده کړو په دولتي ښوونځیو کې۱۴۹۹۰ تنه  نارینه او ٦۴۷۷ تنه ښځینه زده کوونکي جذب شوي دي. چې په دې جذب سره د خوست ولایت د عمومي زده کړو برنامې د دولتي ښوونځیو د زده کوونکو مجموعي شمیر ۲۳۲۵۱۵ تنو ته رسیږي چې ٦۸۷۵۷ تنه یې ښځینه دي.







**۵.۱ فعالیت: د کابل ښار او ولایتونو په کچه د ۴ بابه نویو ښوونځیو تأسیس**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دخوست ولایت په کچه نوي دولتي ښوونځي نه دي تاسیس شوي او په دې اړه چا غوښتنه او مراجعه هم نه ده کړې.

**۶.۱ فعالیت: په خوست ولایت کې د اړوندو ادارو سره د پخوانۍ همغږۍ پر بنسټ د منځنۍ دورې ښوونځیو د لومړنیو ښوونځو لېسې ښوونځیو ته د منځنیو ښوونځیو لوړول (۶)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د خوست ولایت په صبریو او یعقوبیو ولسوالۍ کې د رحیم کلي ابتدایه په نوم ۱ باب لومړنی ښوونځی منځنی ښوونځي ته، په سپیره ولسوالۍ کې دکوټکي په نوم ۱باب لومړنی ښوونځی منځنی ښوونځي ته او په باک ولسوالۍ کې دسپرکي په نوم ۱باب منځنی ښوونځی لېسې ته لوړ شوی دی.

**۷.۱ فعالیت: جلا کول، د نوم بدلول، ادغام، د جنسیت بدلون، د اقلیم بدلون او په مرکز او ولایتونو کې له یوه ځای څخه بل ځای ته د ښوونځیو انتقال (۷)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې د ۲ بابه خصوصي ښوونځیو نوم بدلون تر سره شوی (چې په نادرشاه کوټ ولسوالۍ کې ۱ باب خصوصي ښوونځی د( نورعمران) څخه (ناصرپوهاند) ته او ۱ باب خصوصي ښوونځی د گربزو ولسوالۍ کې د( نورالاسلام ۵نمبر) څخه(ظفر) ته نوم بدلون تر سره شوی دی)،چې همدا ظفر خصوصي ښوونځی تنیو ولسوالۍ ته انتقال شوی هم دی. همدارنگه په نادرشاه کوټ ولسوالۍ کې د ابو بکر صدیق لومړنی ښوونځی د کاني منځني ښوونځي کې مدغم شوي دی. د یادونې وړ ده چې کوم دولتي ښوونځي د یوې ولسوالۍ څخه بلې ولسوالۍ ته ندي انتقال شوي.

**۸.۱ فعالیت: د مرکزي او ولایتي ریاستونو او اړوندو ادارو سره د ښوونځیو جوړولو د پروژو (د احاطې دیوال، احاطې او د پاکو اوبو څاه گانو) په برخو کې همغږي(۲)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دخوست ولایت په سپیره او نادرشاه کوټ ولسوالیو کې د ښوونځیو جوړولو د ۲ پروژو همغږي ترسره شوې ده.

**۹.۱ فعالیت: د ځانگړو اړتیاو لرونکو ماشومانو لپاره د ښوونیزو مرکزونو رامنځته کول(۸)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې د بودیجې دنه شتون او موسساتو دنه همکارۍ له امله دځانگړو اړتیاوو لرونکو ماشومانو لپاره کوم ښوونیز مرکز ندی ایجاد شوی.

**۱۰.۱ فعالیت: له بهر څخه راستانه شویو او مجاهدینو د اړتیاوو او غوښتنو سره سم د ټولگیو تثبیتول(۷۵۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دخوست ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې له ۲۲۰ تنو له بهر څخه راستنیدونکو څخه ازموینه اخېستل شوې او اړونده ټولگیو ته معرفي شوي دي او همدا راز ۳۶۵۷ تنه مجاهدین هم له ازموینې وروسته ښوونځیو ته معرفي شوي دي.

**۱۱.۱ فعالیت: د مرستندویه موسسو په همکارۍ د هېواد په ټولو ولایتونو کې د سیمه ایزو او چټکو زده کړو ټولگیو جوړول(۲۶۵)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د همکارو مؤسسو د نه همکارۍ له امله په خوست ولایت کې د سیمه ایزو زده کړو او چټکو زده کړو نوي ټولگي نه دي ایجاد شوي.

**۱۲.۱ فعالیت: د څارندوي ټیمونو، ترافیک او اور وژنې ټیمونو رامنځته کول او فعالول(۴)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د خوست ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې د څارندوی ۱۳ ټیمونه فعال شوي دي او ۴۹ د ترافیک او اطفایي ټیمونه ایجاد شوي.

**۱۳.۱ فعالیت: د سواد د اهمیت په اړه د عامه پوهاوي د لوړولو په موخه د پروگرامونو تنظیمول(۱۱۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د خوست ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې د جوماتونو له لارې دعامه پوهاوي۱۱۲ پروګرامونه تر سره شوي دي. چې د یادو پروګرامونو په تر سره کولو سره د سواد د اهمیت په اړه د خلکو پوهاوی لوړ شوی دی.

### ۱۴.۱ فعالیت: راستنیدونکو او داخلي بې ځایه شویو لپاره چې د زده کړې څخه بې برخې پاتې د سواد زده کړو د زمینې برابرول(۴۰۰)

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې د راستنیدونکو او داخلي بې ځایه شویو زده کړو څخه پاتې کسانو لپاره دبودجې دنه شتون له کبله دسواد زده کړو زمینه نده برابره شوې.

### ۱۵.۱ فعالیت: د سواد زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبول(۹۱۵۰)

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د خوست ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې د سواد زده کړې په کورسونو کې ۷۰۳۹ تنه سواد زده کوونکي جذب شوي دي.

### ۱۶.۱ فعالیت: د ملا امامانو او کوچیانو د پروګرام له لارې د سواد زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبول(۷۰۰)

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د بودیجې او تشکیل د نه شتون له امله د خوست ولایت په کچه د ملا امامانو او کو چیانو د پروګرامونو له لارې د سواد زده کړې په کورسونو کې جذب نه دی تر سره شوی.

### ۱۷.۱ فعالیت: د خوست ولایت په کچه د سواد زده کړې کورسونو رامنځته کول(۴۱۰)

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دخوست ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې د رسمي ښوونکو له له لارې د سواد زده کړې ۴۶۸ بابه کورسونه تاسیس شوي دي.

### ۱۸.۱ فعالیت: دخصوصي ښوونیزو موسسو اوکورسونو ملاتړ او اعتبار ورکول(۱۹)

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د خوست ولایت په مرکز کې ۱ باب خصوصي ښوونځی د مثال خصوصي ښوونځي په نوم تاسیس شوی دی. ۲۳ بابه خصوصي کورسونه تاسیس شوي دي (چې په مرکز کې دخبري قوت،خوست روښان ، لکن، سمیع الله سلار،آسان خوست، خوست بدلون، خوست پایتخت، خوست ترون؛ په دوه منده ولسوالی کې هیواد یون؛ په تنیو ولسوالی کې افغان ځواک، جهان اذرخش؛ په اسمعیل خیلو او مندوزیو ولسوالی کې قاضي پښتین، علمي نوښ او په صبریو ولسوالی کې خوست ملت،جهان اذرخش ۲نمبر، بیت الله کورس، عبدالحکیم کورس او طلوع لمر، نوښت کورس، ملی باور کورس، په باک ولسوالی کې خوست وادان؛ په ځاځي میدان ولسوالی کې سلام زوی، اندریش احسان په نومونو دي).د ۸ بابه خصوصي ښوونځیو جوازونه تمدید شوي دي (چې په مرکز کې باخترخوست خصوصي ښوونځی، مالک نور محمد خصوصي ښوونځی، ولس غږ خصوصي ښوونځی، الازهر خصوصي ښوونځی، مرتضی خصوصي ښوونځی او نورالفیضان خصوصي ښوونځی؛ اسمعیل خیلو او مندوزیو ولسوالی کې ولس غږ نمبر۲خصوصي ښوونځی او په ګربزو ولسوالی کې شهیدمحمد سونا ښوونځی دي).د ۵ بابه خصوصي کورسونو جوازونه تمدید شوي دي(چې په مرکز کې دنیا خوست، سیال خوست، خوست پرمختګ ، ازمون اذرخش او اذرخش په نومونو دي). ۲بابه خصوصي لومړنیو ښوونځیو منځنیو ښوونځیو ته ارتقا کړې ده(چې په ګربزو ولسوالی کې دي). او ۲ بابه منځنیو ښوونځیو لیسې ښوونځیو ته ارتقا کړې ده(چې ۱ باب په تنیو ولسوالی کې او یو ۱باب په اسمعیل خیلو او مندوزیو ولسوالی کې دی).

### ۱۹.۱ فعالیت: د خصوصي ښوونځیو زده کوونکو درې کلنو نمرو ته اعتبار ورکول ترڅو په بهر کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي(٦)

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د خوست ولایت په کچه دخصوصي ښوونځیو ۱۳تنه نارینه زده کوونکو درې کلنو نمرو ته اعتبار ورکړل شوی دی ترڅو په بهر کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي.

**۲۰.۱ فعالیت: په خصوصي ښوونځیو او کورسونو کې د هغو زده کونکو لپاره چې د مالي اړخه کمزوي وي د زده کړو د زمینې برابرول(۲)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دخوست ولایت په مرکز کې ٦ تنه بېوزله( د مالي اړخه کمزوري) زده کوونکو څخه ۴ تنه زده کوونکی خصوصي ښوونځیو ته او ۲ تنه زده کوونکي مدرسې ته معرفي شوي دي.

## ۲. اسلامي زده کړې

**۱.۲ فعالیت: د اسلامي زده کړو د رسمي بنسټونو تاسیس، د نوم او بنې بدلون، ارتقاء، تمدید او د بستونو وېش(۳۱۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د خوست ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې د اسلامي زده کړو ۲۱۵ بابه رسمي بنسټونه تاسیس او د ۲ بابه اسلامي زده کړو مرکزونو نومونو بدلون موندلی دی .

**۲,۲ فعالیت: د اسلامي زده کړو له تاسیس، د نوم بدلون، ارتقاء، تمدید او د خصوصي مرکزونو د جواز د بنې د بدلون څخه کتنه او کنټرول(٥٦)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دخوست ولایت په مرکز او ولسوالیو کې د ۲۱۰ بابه خصوصي مدرسو څخه څارنه تر سره شوې ده.

**۲,۳ فعالیت: د ۴۲۰ حافظانو او علماء کرامو د سویې تثبیت**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې مشترک امتحان اخیستل شوی،خو تر اوسه یې نتیجه نده معلومه شوې او دحافظانو څخه تر اوسه امتحان ندی اخیستل شوی.

**۲,۴ فعالیت: د دارالعلومونو د اداري او تدریسي لوازمو د اړتیاوو بشپړول او تجهیزول( ۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې د امکاناتو دنه شتون له امله دارالعلوم په اداري او تدریسي لوازمو نه دی سمبال شوی.

**۲,۵ فعالیت: د طالب العلمانو لپاره د لیلیې رامنځته کول(۳۰۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د لیلیې دجوړولو لپاره پیشنهاد شوي دی، خو دمنظورۍ دنه راتلو له امله په خوست ولایت کې د طالب العلمانو لپاره لیلیه نه ده ایجاد شوې مګر پدې ورستیو کې د ۵۰ تنو لپاره اعاشه منظوره شوې ده.

**۲,٦ فعالیت: په دارالعلومونو کې د اختصاصي ازموینې له لارې د عالي دورې په ۱۳ او ۱۴ ټولګیو او د دارالعلوم په لومړنۍ دورې کې د جدیدالشمولانو جلب او جذب(۳۰۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د خوست ولایت د دارالعلوم په ۱۳ او ۱۴ ټولګیو کې ۲۸۵ تنه نارینه او ښځینه او په لومړنۍ دوره کې یې ۴۰۴ تنه طالب العلمان نوي جذب شوي دي.

**۲,۷ فعالیت: د ۲۴۰ مدرسو او د نویو دارالحفاظونو جوړول او نیمه عالي دارالحفافظونو ته د ۳ بابه دارالحفاظونو لوړول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د خوست ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې ۱٦۹ بابه د نارینه او ۴۵ بابه د ښځینه مدرسې نوې ایجاد شوي،خو د۴۵ بابه ذکر شویو ښځینه مدرسو کارونه تر آمر ثاني پورې ځنډول شوي دي.

**۲,۸ فعالیت: د هیواد په مرکز او ولایتونو کې د ۱٦ بابه کلیوالي مدرسو او دارالحفاظونو جوړول**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دخوست ولایت په مرکز او تنیو ولسوالۍ کې ۲ بابه کلیوالي مدرسې جوړې شوي دي.

**۲,۹ فعالیت: د هیواد په مرکز او ولایتونو کې د ۴۵۷ بابه عمومي او کلیوالي مدرسو سمبالول/تجهیزول**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جريان کې د بوديجې د کمښت له امله په خوست ولايت کې عمومي او کليوالي مدرسې په اړونده لازمو وسايلو نه دي سمبال شوي.

### ۳. د کيفيت تضمين

په دې برخه کې د کيفيت تضمين برنامه فعاليتونه نه لري.

### ۴. سرچينې او اداره

**۱.۴ فعاليت: ښوونيزو او اداري مرکزونو او نويو تاسيس شويو ښوونځيو ته د تشکيل او کوډونو ليږدول(۱۰۰٪)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جريان کې په خوست ولايت کې ښوونځيو، ښوونيزو مرکزونو او اداري مرکزونو ته د تشکيل او کوډونو لېږلو کې ۳۰سلنه پرمختګ ترسره شوی دی او نور دتشکيل کمبود دی.

**۴,۲ فعاليت: د ښوونځيو د تشکيل لوړول له لومړني ښوونځي څخه منځني او ليسې ته او نورو ښوونيزو اداري مرکزونو ته لوړول(۱۰۰٪)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جريان کې دخوست ولايت د کارکوونکو چارو عمومي مديريت له لوړې منځني ښوونځي ته د لومړنيو ښوونځيو او لېسې ښوونځيو ته د منځنيو ښوونځيو د لوړولو پروسه کې ۳۰ سلنه پرمختګ تر سره شوی دی.

**۴,۳ فعاليت: د طرحو، ساختارونو او تشکيلاتي احصايو نهايي کول او د منظورۍ او تطبيق په خاطر يې د رياست الوزرا لوړ مقام ته ليږل(۱۰۰٪)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جريان کې دخوست ولايت دطرحو،ساختارونو او تشکيلاتي احصايو نهايي کولو په برخه کې ۷۸ سلنه پرمختګ شوی دی، د منظورۍ او تطبيق په خاطر درياست الوزرا عالي مقام ته ليږل شوی او منظوري يې طی مراحل شوې ده.

**۴,۴ فعاليت: د بشري سرچينو د پروسو ساده کول او سمون او د مرکزي او ولايتي ادارو د دندو د لايحو بيا کتنه او معياري کول(۱۰۰٪)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جريان کې دخوست ولايت دپوهنې رياست دکارمندانو د دندو په لايحو باندې دوزارت له خوا بياکتنه شوې، په معياري توګه ترتيب شوي ، دپوهنې وزارت مقام څخه يې منظوري په وخت را رسيدلې او اړونده ادارو او کار کوونکو ته تکثير او ويشل شوي دي چې په دې برخه کې ۱۰۰سلنه پرمختګ ترسره شوی دی.

**۴,۵ فعاليت: د برېښنايي سيستم د تطبيق، د جنسونو د محاسبې او عامه جايدادونو (جنسونو، سامانونو، وسايطو اونورو ... ) د ثبت او د څارنې د څرنګوالي په موخه د يو تخنيکي ټيم ټاکل او لېږل(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جريان کې د مرکز څخه خوست ولايت ته دبريښنايي سيستم دتطبيق، دجنسونو دمحاسبې او عامه جايدادونو(جنسونو، سامانونو، وسايطو او نورو...) دثبت او دڅارنې دڅرنګوالي په موخه تخنيکي ټيم ندی راغلی.

**۴,۶ فعاليت: د دولت او همکارو موسسو له بوديجې څخه د ساختماني پروژو جوړول(۱۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جريان کې په خوست ولايت کې دهمکارو موسسو له بوديجې څخه ۱۰ ساختماني پروژې (په تنيو ولسوالی کې د زنده خېل،جړوبي او لنډيو؛ په اسمعيل خېلو او مندوزيو ولسوالی کې د شهباز خان ؛ په نادرشاه کوټ ولسوالی کې عالم ګل؛ په ګربزو ولسوالۍ کې کوديخيل؛ځاځی ميدان ولسوالی کې سوه کې؛ صبريو ولسوالۍ کې چهار قريه ؛په مرکز کې ستر مزغور او په موسی خيلو ولسوالۍ کې ځنډې ښوونځی) اعمار شوي دي.

**۴,۷ فعالیت:  د ښوونځیو د ساتنې او پاملرنې او املاکو ریاست په همغږۍ سره د ولایتونو ټیمونو له لارې د عادي او موسسو له بودیجې څخه ترمیماتي پروژو تطبیقول(۲۵)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې ۵ ترمیماتي پروژې په درې ولسوالیو کې چې په سپېرې ولسوالۍ کې مرکزي لېسه او ښنګ لېسه، په نادرشاه کوټ ولسوالۍ کې شمبوات لېسه او المره لېسه او په موسی خېلو ولسوالۍ کې زوړ کوټ ښوونځي دی د مؤسسو له بودیجې څخه ترمیم شوي دي. ۴ ترمیماتي پروژې په درې ولسوالیو کې په دوه منده ولسوالۍ کې حقانیه مدرسه او دوه منده مرکزي ښوونځی، په قلندر ولسوالۍ کې کمرون لومړنی ښوونځی او په مرکز کې سمتروه ښوونځی دی چې د امارتي بودیجې څخه ترمیم شوي دي.

**۴,۸ فعالیت:  د مرکز او ولایتونو څخه د بنسټیزو او ترمیماتي پروژو د قیمت ورکولو په موخه په ربعوار ډول د ساختماني موادو نرخونو راټولول(۱۰۰٪)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې د ترانسپورت د نه شتون له امله دبنسټیزو او ترمیماتي پروژو دقیمت ورکولو په موخه په ربعوار ډول دساختماني موادو دنرخونو راټولولو فعالیت نه دی ترسره شوی.

**۴,۹ فعالیت:  د ښوونځیو او مدرسو د جوړولو په موخه د معارف پاله خلکو له لارې د شخصي ځمکو برابرول(۱۵ جریبه)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې د معارف پاله خلکو له لورې دښوونځیو او مدرسو دجوړولو په موخه شخصي ځمکې (چې دموسی خیلو په ولسوالۍ کې دسن موسی خیل منځنی ښوونځي دوهمه او کوټکي لومړنی ښوونځي ته ۴جریبه ځمکه وقف او دوقف خط په مورد یې اجراات ترسره شوي دي.

**۱۰.۴ فعالیت:  د مرکز او ولایتونو په کچه د پوهنې اړوند تر دعوې او شخړې لاندې غصب شویو جایدادونو د دوسیو تعقیبول او د پوهنې د غصب شویو، نیول شویو او تر دعوې لاندې جایدادونو خلاصول(۱۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دخوست ولایت په مرکز کې ۲ بابه ښوونځیو د(شهید مطیع الله لېسې او استقلال لېسې) د دعوې او غصب شویو جایدادونو دوسیې تعقیب شوي، دغصب  څخه خلاصې شوي او کار یې بشپړ شوی دی.

## ۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور)

**۱.۵ فعالیت: د مرکز، ولایتونو او پوهنې ریاستونو استازو ته د ولایت له پوهنې څخه د ترلاسه شویو مکتوبونو د  ترلاسه کېدو او ښه اجراآتو په اړه معلومات ورکول(۱۰۰٪)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د مرکز څخه راغلي مکتوبونه، فرمانونه او حکمونه په خپل وخت اړونده ادارو او کسانو ته ورکړل شوي، همدا راز د خوست ولایت پوهنې ریاست اړونده مکتوبونه، وړاندیزونه او نور اسناد وزرات مقام ته استول شوي دي.

## ۳ برخه: آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکی مدیریت

**تولیزه موخه:** د مرکز او ولایتونو په کچه کیفیت لرونکي، انډولیز او رڼو، ارزانه او آغېزمنو ښوونیزو چوپړتیاو د وړاندی کولو او برابرولو لپاره د آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکي مدیریت پراختیا او غښتلتیا.

### ۱. ښوونه او روزنه

**۱.۱ فعالیت: د هېواد د ولایتونو په لرې پرتو او محرومو سیمو کې د ښوونکو د ګمارنې له څرنګوالي څخه څارنه(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د یاد فعالیت د تر سره کولو په موخه د وزارت څخه کوم ټیم خوست ولایت ته سفر نه دی تر سره کړی.

**۲.۱ فعالیت: د اساسي او ثانوي زده کړو ریاست سره په همغږۍ په خوست ولایت کې د ځارنې له لارې د ښوونې او روزنې پروګرام اړوند د پوهنې وزارت سره د همکارو مؤسسو د لاسلیک شویو تعاهد/هوکړه لیکونو څخه د ډاډ ترلاسه کول(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې خوست ولایت ته ددې فعالیت د تر سره کولو په موخه د وزارت څخه ټیم نه دی راغلی.

**۳.۱ فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د اړتیاوؤ ارزولو او د ستونزو د پیژندلو په موخه د مسلکي پراختیا له مرکزونو او ساینس مرکز څخه ځارنه کول(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د مرکز څخه کوم ټیم د مسلکي پراختیا له مرکزونو او ساینس مرکز څخه د ځارنې او لیدنې په موخه نه دی راغلی.

**۴.۱ فعالیت: د مقام د وزارت ته د عمومي ریاست او تر چتر لاندې اړوند ریاستونو د کادري غړو د علمي رتبو تصویب او پیشنهادول(۲۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د خوست ولایت څخه د وزارت مقام ته د کادري غړو د علمي رتبو پیشنهاد نه دی شوی.

**۵.۱ فعالیت: د کابل ښار په ګډون په ولایتونو کې د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا غړو لخوا د ښوونځیو د شوراګانو له کارونو او د هغوی له آغېزمنتوب څخه ځارنه(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د خوست ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې دښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا غړو لخوا د ۱۱۹ بابه ښوونځیو دشوراګانو له کارونو او دهغوی له آغېزمنتوب څخه ځارنه ترسره شوې ده.

**۶.۱ فعالیت: مسلکي پراختیا، عمومي زده کړو ښوونځیو، سیمه ئیز او چټکو زده کړو ټولګیو او سواد زده کړو کورسونو څخه حمایوي ځارنه(۵۳۷)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د خوست ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې د ښوونکو دمسلکي پراختیا ۱۲ مرکزونو، دعمومي زده کړو د دولتي او خصوصی ۴۹۴ بابه ښوونځیو، د سیمه ییزو زده کړو د ۲۱۰ بابه ټولګیو او دچټکو زده کړو د ۵۰ بابه ټولګیو څخه دړې ځلې حمایوي ځارنه ترسره شوې ده، چې د یادې ځارنې په ترځ کې د نوموړو مرکزونو نیمګړتیاوې په ګوته او لازمې سپارښتنې ورته شوې دي.

**۷.۱ فعالیت: د درسونو مشاهدې له لارې د ۱۶۱۳ تنو ښوونکو او نورو ښوونیزو کارکوونکو د کتنو له لارې د روزنیزو اړتیاوو په ډاګه کول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دخوست ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې دعمومي زده کړو د دولتي او خصوصي ښوونځیو د ۵۱۲۱ تنو ښوونکو ، ۵۴۶ تنو سرښوونکو، ۲۳۴ تنو مدیرانو او د ۲۴۴ تنو دسواد زده کړې ښوونکو څخه مشاهدې ترسره شوې دي.

**۸.۱ فعالیت: د ترسره شویو علمي راپورونو ترلاسه کول، توحید، تحلیل او وړاندې کول(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دخوست ولایت په کچه دښوونکو مسلکي پراختیاغړو له لورې ۱۰ علمي راپورونه ترتیب او وړاندې شوي دي.

**۹.۱ فعالیت: د هوکړه لیکونو کتنه او تخنیکي اصلاح او د همکارو مؤسسو په ملاتړ د ګډې نمونوي ځارنې ترسره کول(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې د هوکړه لیکونو کتنه او تخنیکي اصلاح او د همکارو مؤسسو په ملاتړ ګډه نمونوي ځارنه نه ده تر سره شوې.

**۱۰.۱ فعالیت: د ولایتي ریاستونو له لارې په کابل ښار او ولایتونو کې د انجونو د زده کړې پر وړاندې د ستونزو او ننګونو په ډاګه کول(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې دانجونو د زده کړو پر وړاندې کومې ستونزې نشته، دلومړي ټولګي څخه تر شپږم ټولګي پورې دانجونو زده کړې په عادي او نورمال توګه رواني دي.

**۱۱.۱ فعالیت: د اساسي او ثانوي زده کړو زده کوونکو له پاره چې له هیواد څخه بهر د زده کړې د دوام غوښتنه لري د ښوونیزو سوابقو او ترانسکرپټونو برابرول(۱۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې د اساسي او ثانوي زده کړو زده کوونکو له پاره چې له هیواد څخه بهر د زده کړې دوام غوښتنه لري، ۴۳ ترانسکریپټونه او ۲۰۷ ښوونیز سوابق ترتیب شوي دي.

**۱۲.۱ فعالیت: د سیمه ایزو او چټکو زده کړو د هغو زده کوونکو د احصایې راټول چې د ۱۴۰۳ کال په په پای کې دولتي ښوونځیو ته لیږدول کېږي(۲۲۷۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د سیمه ایزو او چټکو زده کړو د هغه زده کوونکو احصایه چې دولتي ښوونځیو ته لیږدول کیږي، تر اوسه پورې نده رالیږل شوې.

**۱۳.۱ فعالیت: په بیړنی حالت کې د زده کوونکو احصایې راټولول او توحیدول(۸۲۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې د بیړني حالت زده کوونکو احصایه راټوله شوې ده چې له مخې یې ۳۴۲ تنه له بهر څخه بیرته راستنیدونکي زده کوونکي دي چې ازموینه ورڅخه اخیستل شوي ده او ښوونځیو ته به معرفي شي.

**۱۴.۱ فعالیت: د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) او د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) په مرسته د هېواد په ټولو ښوونځیو کې د کولمو د چینجیو د له منځه وړلو ټولیز کمپاین ترسره کول او د البندازول د ټابلیټونو ویشل(۳۹۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د روغتیا نړیوال سازمان او خوړو نړیوال پروګرام په مرسته په خوست ولایت کې د کولمو چینجیو د له منځه وړلو ټولیز کمپاین تر سره شوی چې په پایله کې د البندازول ټابلیټونو څخه ۷۹۲ بابه دعمومي زده کړو او اسلامي زده کړو مرکزونه او ۳۶۰۰۰۰ تنه زده کوونکي ورڅخه مستفید شوي دي.

**۱۵.۱ فعالیت: په خوست ولایت کې د څارندوی ټیمونو له لارې د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې تبلیغات کول(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د خوست ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې دڅارندوی ټیمونو له لارې دمخدره موادو پر وړاندې دمبارزې ۱۱۶۵ تبلیغات ترسره شوي دي.

**۱۶.۱ فعالیت: د وړتیاوو د معلومولو او ملي او نړیوالو سیالیو ته د معرفي کولو په موخه د ورزشي سیالیو په لاره اچول(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د خوست ولایت په مرکز او ټولو ۱۲ ولسوالیو کې د وړتیاوو دمعلومولو او ملي او نړیوالو سیالیو ته دمعرفي کولو په موخه ۱۳۱ ورزشي سیالۍ په لاره اچول شوې چې ۸۱ تنه ورزشکاران ترې انتخاب شوي دي.

**۱,۱۷ فعالیت: د سواد د زده کړې برنامو څخه د مرستې او ملاتړ د جلب په موخه د ولایت او د ولسوالیو په کچه د سواد د کمیټو غونډو دایرول(۵٦)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې د سواد زده کړې پروګرمونو څخه دمرستې او ملاتړ دجلب په موخه د ولایت په کچه ٦ او د مرکز او ولسوالیو په کچه ٦۸دسواد دکمېټو غونډې دایرې شوي دي.

**۱۸.۱ فعالیت: د خصوصي ښوونځیو او ښوونیزو کورسونو د امتیاز دلیږد، د ځای د بدلون او ځای ناستي او مدیر ته اعتبار ورکول(۳)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې ۴ بابه خصوصي ښوونځي رسمي سپارل شوي دي ( چې ۳ بابه دمرکز او ۱ باب دګربزو ولسوالی اړوند دي). ۵ تنه مدیران رسمي شوي دي ( چې ۳ تنه دمرکز اړوند دي چې ۲تنه په خیرالناس خصوصي ښوونځي کې، ۱ تن په البرج خصوصي ښوونځي کې او ۲ تن داسمعیل خیلو او مندوزیو ولسوالی اړوند ولس غږ دویم نمبر خصوصي ښوونځي اوخیرالناس دوهم نمبر لیسه کې)رسمي شوي دي.

## ۲. اسلامي زده کړې

### ۱.۲ فعالیت: د علماو کرامو د عالیه او خامسه درجو او د اسلامي زده کړو دیپلوماتیک او ثبت شوي اتشي سندونو ارزونه(۲۰۰)

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې دقابلیتونو د ارزونې ریاست له خوا دعلما کرامو دعالیه او خامسه درجو او داسلامي زده کړو دیپلوماتیک او ثبت شوي اتشي سندونو ارزونه نده تر سره شوې.مګر دعالیه او خامسه درجو د ۴۰۰ علما کرامو فورمې خانه پری او وزارت مقام ته لیږل شوي دي.

### ۲,۲ فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د مسلکي پراختیا غړو له فعالیتونو څارنه او کنټرول(۵۴)

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې دمسلکي پراختیا غړو له فعالیتونو ۱ ځل څارنه او کنټرول ترسره شوی دی.

### ۲,۳ فعالیت: په دارالعلومونو کې د نویو علمي، کدري استادانو د کادرونو اجرا او د علمي رتبو لوړول(۷۰)

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې د دارالعلومونو ریاست له خوا په دارالعلومونو کې دنویو علمي،کادري استادانو د کادرونو اجرا او دعلمي رتبو لوړول نه دي تر سره شوي.مګر ۱ تن استاد پیشنهاد شوی دی.

### ۲,۴ فعالیت: له ۸۷۸ تنو ګډونوالو څخه د ازموینې اخیستل او د ۱۲ او ۱۴ ټولګیو د ارزول شویو ۸۷۸ قطعو شهادتنامو اجرا کول؛

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې د ۱۸۵ تنو ازموینه اخیستل شوې او فورمې یې وزارت ته لیږل شوي او د ۱۲ټولګیو ۴۵۲ قطعه شهادتنامې ویشل شوي دي.

### ۲,۵ فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د قرانکریم د سیالیو ترسره کول(۱)

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې د قران کریم سیالی نه دي تر سره شوي، چې دنه ترسره کیدو لامل یې داسلامي زده کړو برنامې دکارونو دحجم زیاتوالی او دبودیجې نه شتون دی.

## ۳. د کیفیت تضمین

په دې برخه کې د کیفیت تضمین برنامه فعالیتونه نه لري.

## ۴. سرچینې او اداره

### ۱.۴ فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د بشري سرچینو د راجستریشن په سیستم کې د معلوماتو نوي کول د خالي بستونو په ډاګه کول)(۵۴۰)

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د انساني سرچینو عمومي مدیریت له لورې د خوست ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې ۱۴۶۵خالي بستونه په ډاګه شوي دي.

### ۴,۲ فعالیت: دخوست ولایت په کچه د کارکوونکو د ثبت او راجستریشن د وړاندیز شویو تغیراتو ثبتول(٦٨٠)

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د خوست ولایت په کچه٨٦٧ تنه کارکوونکي ثبت او راجستر شوي دي.

**۴,۳ فعالیت: د تبدیلۍ او بست د لوړوالي چارو د پرمخ بیولو په موخه، استخدام ریاست ته د تشو بستونو په اړه د معلوماتو وړاندې کول(۱۳۵۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دخوست ولایت په کچه دتبدیلۍ او بست د لوړوالي چارو د پرمخ بیولو په موخه، استخدام ریاست ته د ۱۴۶۵تشو بستونو په اړه معلومات وړاندې شوي دي.

**۴,۴ فعالیت: د ٦۲۰ هویت/پیژند کارتونو چاپ او ویش**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې د پوهنې ریاست اړوند ۱۳۸تنه کارمندانو ته دهویت کارتونه چاپ او ویشل شوي دي.

**۴,۵ فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه په تشو بستونو کې د نویو مقرر شویو کارکوونکو د ګمارنې بهیر څخه مدیریت(۲۴۶۲)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د خوست ولایت په مرکز او ۱۲ ولسوالیو کې ۳۰۳ تنه کار کوونکي، ۹۹۱ تنه استادان او ۷۲۶ تنه ښوونکي چې له جملې یې( ۳۰ تنه ریاضي او فزیک،۲۰ تنه کیمیا او بیولوژي، ۱۵تنه تاریخ او جغرافیه، ۱۰ تنه پښتو او ۵۳۰ تنه دیني علومو) رشتو کې ګمارل شوي دي. چې په دې ګمارنې سره په خوست ولایت کې د کارکوونکو عمومي ۵۲۱تنو ته چې۲ تنه یې ښځینه دي او د ښوونکو مجموعي شمیر ۵۰۸۲ تنو ته چې۲۵۹ تنه یې ښځینه دي رسیږي.

**۴,٦ فعالیت: د پوهنې وزارت د ښوونیزو چارو، اداري کارکوونکو او خدماتي کارکوونکو د کړنو د ارزونې نتایجو ( د بست او قدم لوړول ) بیاکتل او د پراوونو بشپړول(۳۲۱۳)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دخوست ولایت د مرکز او ۱۲ ولسوالیو په کچه د ۲۳۵۸ تنه ښوونکو د قدم لوړتیا تر سره شوې ده، خو د بست لوړتیا تر دوهم امر پورې ځنډېدلې ده.

**۴,۷ فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه په شرایطو برابر کارکوونکو د تقاعد اجراء کول(۷۲)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دخوست ولایت په کچه په شرایطو برابر ۵۱ تنه کارکوونکي تقاعد شوي دي، اوس فعلا تقاعد ځنډېدلی دی.

**۴,۸ فعالیت: د راتلونکي امنیتي پیښو د مخنیوي په موخه، له ولایتونو څخه میاشتني، درې میاشتني او کلني امنیتي راپورونو راټولول(۱۷)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې د راتلونکي امنیتي پیښو دمخنیوي په موخه، دخدماتو مدیریت له لورې ۱ کلنی، ۱۲ میاشتني او ۴ ربعوار امنیتي راپورونه ترتیب او راټول شوي دي.

**۴,۹ فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د کتابونو او اداري جنسونو او مالونو د لېږد په موخه د وندې سره سم دچټک تلونکو او بار وړونکو وسایطو په خدمتي توګه تنظیمول او توظیفول(۲)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د خوست ولایت په کچه د وزارت له لوري دکتابونو، اداري جنسونو او مالونو دلېږد په موخه د چټک تلونکو او بار وړونکو وسایطو په خدمتي توګه تنظیم او توظیف نه دی ترسره شوي.

**۱۰.۴ فعالیت: د پوهنې وزارت د مرکزي او ولایتونو ادارو لپاره د مطبوع او غیر مطبوع (چاپي او غیر چاپي ) قرطاسیې او مینځوونکو موادو ویشل(۲)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د خوست ولایت پوهنې ریاست ته د وزارت له لوري چاپي او غیر چاپي قرطاسیه او مینځونکي مواد نه دي ویشل شوي.

**۱۱.۴ فعالیت: د پوهنې اړوند ریاستونو د ښوونځیو زده کوونکو لپاره ۱۰۰۰ پاپې میزونو او څوکیو تولیدول او جوړول**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې د ښوونځیو زده کوونکو لپاره میزونه او څوکۍ نه دي تولید شوي. یاده کړنه به د روان کال په څلورمه ربعه کې تر سره شي.

**۱۲.۴ فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د اړتیا او لارښوونې سره سم د ساختماني او ترمیماتي پروژو د تطبیق له بهیر څخه په بېلابېلو وختونو کې څارنه(٦)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دخوست ولایت په کچه د ۱۴ ساختماني اساسی پروژو او ۱۰ ترمیماتي پروژو(چې ترمیماتي پروژې په سپیره ولسوالی کې د سپیرې مرکزي لېسه، ښنګ لېسه او سورکوخ ښوونځي؛ په نادرشاه کوټ ولسوالی کې د شمبوات لېسه او المره لېسه؛ په موسی خېلو ولسوالی کې د زوړ کوټ ښوونځي؛ په دوه منده ولسوالی کې دحقانیه مدرسه؛ په اسمعیل خېلو او مندوزیو ولسوالی کې د توره اوړې لېسه؛ په مرکز کې سمتروه ښوونځي او په قلندر ولسوالی کې کمرون ابتدایه ښوونځي دی) چې د تطبیق له بهیر څخه یې څارنه تر سره شوي ده.

**۱۳.۴ فعالیت: د ځمکو د انتقال په موخه د ۸ پروتوکولونو لاسلیک کول او د زراعت له محترم وزارت او ښاروالیو څخه د ۱۰۵۰ جریبه ځمکو غوښتل(۷۰ جریبه)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې د زراعت له محترم وزارت او ښاروالی څخه ځمکه نه ده غوښتل شوې. ځکه چې یاده چاره د(۸)(۱۴۰۳/۳/۱۴)ګڼه نیتي فرمان په اساس ځنډېدلي ده.

**۱۴.۴ فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د پوهنې د کرایې ورکړل شویو او نیول شویو جایدادونو د قراردادونو چارو څخه څارنه او مدیریت ترسره کول(۴۲)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دخوست ولایت په مرکز، اسمعیل خیلو اومندوزیو، دوه منده، تریزي اوعلیشیرو،موسی خیلو،صبریواویعقوبیو، ګربزو، تنیو او باک ولسوالیو کې ۳۸ دربنده حویلۍ په کرایه نیول شوي دي چې دقراردادونو چارو څخه یې څارنه او مدیریت ترسره شوی دی.

**۱۵.۴ فعالیت: د اسلامي امارت او همکارو موسسو د بودیجې څخه د ترمیماتي پروژو په برخه کې د تخنیکي نظر څرګندول(۲)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې ترمیماتي پروژو کارونه دشروع کیدو په مهال کې قرار درلودو نو له همدې امله د اسلامي امارت او همکارو مؤسسو د بودیجې څخه د ترمیماتي پروژو په برخه کې تخنیکي نظر نه دی څرګند شوی.

## ۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور)

**۱.۵ فعالیت: د پوهنې وزارت د معینیتونو سره د دریم او څلورم بستونو د ازموینو په هکله همغږي(۴۵)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دخوست ولایت دپوهنې ریاست د دفتر مدیریت دپوهنې وزارت دمعینیتونو سره د دریم او څلورم بستونو د ازموینو په هکله همغږی نه ده کړې، ځکه یاد اجراات د پوهنې وزارت کې ترسره کیږي.

**۵,۲ فعالیت: د همکارو موسسو او نورو غیر دولتي ادارو سره د تفاهم نامو د یادانښت طی مراحل کول او د هوکړه لیکونو لاسلیک کول(۲)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې ۴ تفاهم نامې دمؤسسو او پوهنې محترم وزارت ترمنځ لاسلیک شوي دي، چې د وایفا ، دافغانستان بنستیز ودانولو(ODIA) ،اراده او ابرار مؤسسې دي چې یادې تفاهم نامې دخوست ولایت پوهنې ریاست ته رسمآ را استول شوي دي.

**۵,۳ فعالیت: د مرکزي او ولایتي ادارو د ټولو مکتوبونو، فرمانونو، مصوبو او طرزالعملونو د لېږد را لېږد په برخه کې دوامداره همغږي او د اړیکو ټینګول؛ او د کابل ښار او ولایتونو د پوهنې ریاستونو د پیشنهادونو طی مراحل کول(۲۹۴۵)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د مرکز څخه خوست ولایت پوهنې ریاست ته ٦۹ فرمانونه، حکمونه او مصوبې او۳۰۰۷ مکتوبونه راغلي چې په خپل وخت اړونده شعبو ته تکثیر شوي دي. همدا راز د خوست ولایت پوهنې ریاست څخه ۴۴۰۲ مکتوبونه او ۴۱۹ وړاندیزونه وزارت مقام ته لېږل شوي دي او ۱۲ متحدالمال او متفرقه مکتوبونه تعقیب شوي دي.

**۵,۴ فعالیت: د ولایتونو څخه د تر لاسه شویو راپورونو تعقیب، کنترول او انسجام او د پوهنې د کارکوونکو د داخلي خدمتي سفرونو تنظیمول(۱۳٦)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د خوست ولایت په کچه ۱۰۹راپورونه راټول او وزارت مقام ته استول شوي دي. همدارنګه د وزارت مقام څخه ۱٦ټاکل شویو ټیمونو خوست ولایت ته سفرونه کړي دي او د ولایت پوهنې ریاست دخدماتي کارکوونکو۲۴سندونه طی مراحل شوي دي.

**۵,۵ فعالیت: د معینیتونو، مرکزي ریاستونو او د ولایتونو د پوهنې ریاستونو د ترلاسه شویو اسنادو هر اړخیزه کتنه او اړونده مرجعو ته یې استول(۱۷۰۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دخوست ولایت څخه ۴۴۰۲ سندونه وزارت مقام ته استول شوي دي چې ۴۴۰۲سندونه د ولایتي همغږۍ ریاست د کارپوهانو له لورې کارشناسي شوي او دفتر ریاست او معینیتونو ته راجع شوي دي.

**۵,٦ فعالیت: د کوچیانو د ښوونیزو چارو د ملاتړو او تقویتي پروګرامونو تنظیمول(۹)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې په خوست ولایت کې ۱۰ د کوچیانو د ښوونیزو چارو ملاتړ او تقویتي پروګرامونه تنظیم شوي دی.

**۵,۷ فعالیت: د دفتري کارونو څخه مدیریت، د واحدونو تر منځ د همغږۍ رامنځ ته کول او د ولایتونو پوهنې ریاستونو ته د رهبرۍ د ځانګړو لارښوونو او پریکړو ابلاغول(۳)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دخوست ولایت پوهنې ریاست اړوند شعبو ته د رهبرۍ ۲پریکړې او ۷خاص هدایات تکثیر او ابلاغ شوي دي او د دفتر دارۍ له چارو څخه څارنه او مدیریت شوی دی.

**۵,۸ فعالیت: په ملي، ولایتي او ولسوالیو په کچه د عملیاتي پلانونو تحلیل، انسجام او توحیدول(۱۴)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دخوست ولایت دپلان عمومي مدیریت له لورې د ولایت په کچه ۱ عملیاتي پلان او د ولایت د مرکز او ولسوالیو په کچه ۱۳ عملیاتي پلانونه تهیه،ترتیب او بشپړشوي دي.

**۵,۹ فعالیت: د خوست ولایت په کچه د ښوونیرو مرکزونو د جوړولو د ملي پلان تحلیل، انسجام او توحیدول(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دخوست ولایت په کچه د ښوونیزو مرکزونو د جوړولو ۱ پلان د پلان عمومي مدیریت له لورې تهیه اوترتیب شوی دی.

**10.5 فعالیت: د خوست ولایت په کچه د انکشافي پروژو د کانسپت نوټونو تحلیل، انسجام او توحیدول(۱۰)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دخوست ولایت په کچه دپلان عمومي مدیریت له لورې ۲۸ کانسپټ نوټونه د۲۷بابه ښوونځیو او ۱بابه مدرسې لپاره چې تعمیراتو او نورو ملحقاتو ته یې اړتیاوې درلودې ترتیب شوي دي.

**11.5 فعالیت: د پوهنې وزارت د پنځه کلن ملي پلان تسوید او د مشورې او نظر غوښتلو په موخه د معینیتونو، مرکزي ریاستونو او د ولایتونو د پوهنې ریاستونو سره شریکول(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دپوهنې وزارت د پلان ریاست له لورې د پنځه کلن ملي پلان مسوده د خوست ولایت پوهنې ریاست ته د مشورې او نظر ورکولو په موخه  را استول شوي، چې بیا یې په اړوند د پوهنې ریاست مشورې او نظرونه را ټول او د پوهنې وزارت د پلان ریاست ته ور استول شوي دي.

**۱۲.۵ فعالیت:  د خوست پوهنې او د برنامو او ولسوالیو پوهنې آمرینو د کاري پلانونو تحلیل او انسجام(۲۲)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې دخوست ولایت پوهنې  رئیس کاري پلان ترتیب او د وزارت مقام له لورې منظور شوی دی او همدا راز  د برنامو او مدیریتونو په کچه ۲۱ کاري پلانونه ترتیب شوي دي.

**۱۳.۵ فعالیت:  د پوهنې وزارت تر چتر لاندې مرکزي او ولایتي واحدونو د عادي او انکشافي بودیجې د مالي فعالیتونو او کړنو څخه پلټنه او کتنه او د قوانینو مراعتول(۱)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د مرکز څخه د پلټنې ټیم د یاد فعالیت د تر سره کولو په موخه خوست ولایت ته راغلی دی چې دپوهنې ریاست اړوند  مدیریتونو او۸ ولسوالیو پوهنې امریتونو څخه مالي بررسي ترسره شوې ده،همدا رنګه داخلي پلټنې مدیریت دمرکزي دارالعلوم په شمول د ۷ خصوصي ښوونځیو بررسي ترسره کړیده.

**۱۴.۵ فعالیت:  د عدلي او قضایي ارګانونو د قرار کشفي ځانګړو قضایاؤ بشپړول او د پوهنې وزارت تر اغیز لاندې واحدونو،  بهرنیو ادارو  او  اشخاصو لخوا د وړاندې شویو شکایتونو او راپورونو کتنه(۳)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د مرکز څخه د پلټنې ټیم د نوموړي فعالیت د تر سره کولو په موخه خوست ولایت ته راغلی دی. مګر دپوهنې وزارت دتفتیش ریاست مسلکي کارمندانو لخوا دپوهنې ریاست اړوند مدیریتونو څخه پلاني بررسي ترسره شوې او کومې خاص قضایاوې نه دي بررسي شوي البته دخوست پوهنې ریاست د داخلي تفتیش مدیریت لخوا ۵ خاص موضوعات بررسي شوي دي.

**۱۵.۵ فعالیت:  په خوست ولایت کې د مختصر نصاب تدریس، د کارکوونکو څخه د ازموینې اخیستل او د اصلاحي پروګرامونو پلي کول(۹٦۲)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د دعوت او ارشاد  له خوا دټاکل شوی  محترم نماینده (دپوهنې ریاست اداری او مالي محترم مرستیال) له لورې د خوست ولایت په مرکزي هسته کې نیږدی ۱۷۳ تنو کارکوونکو  ته د مختصر نصاب تدریس په دوامداره توګه  شوی دی او اصلاحي پروګرامونه پلي شوي دي.

**۱٦.۴ د مرکز او ولایتونو کارکوونکو ته د اسلامي شریعت د احکامو سره سم  توصیه او د هغوی د صورت او سیرت اصلاح او د اسلامي امارت د پالیسۍ پربنسټ د اولوالامر اطاعت کول(۹٦۲)**

د ۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د خوست ولایت په کچه د دعوت او ارشاد کارکوونکو له لورې د پوهنې ریاست مرکزي هستې ۲۰تنه کارمندانو  ته دصورت او سیرت اصلاح په خاطر  توصیې  ورکړل  شوي دي.

**دریمه برخه**

## د غیر پلاني فعالیتونو او لاسته راوړنو برخه

- د خوست ولایت دتضمین کیفیت برنامې دڅارنې ارزونې او دراپوروںو دتوحید کولو غړیو له لوري ۱۸تنو دبرنامو او مدیریتونو دعملیاتي پلان دپرمختګ څخه د راپوروںو ترتیب کوونکو مدیرانو ته تکرارآ په انفرادي توګه د راپور ورکونې په فارمټ کې دخپلې برنامې او مدیریت دراپوروںو دچمتو کولو په برخه کې پوهاوی ور کړل شوی دی.
- د کیفیت تضمین امریت دڅارنې او ارزونې عمومي مدیریت دڅارنې او ارزونې د مسلکي غړیو له لوري دترتیب کړې پلان مطابق دپوهنې ریاست دمرکزي هستې د۴ برنامو او۲۲ تولو عمومي مدیریتونو دکارونو ارزونه شوې ده،راپورونه ورڅخه ترتیب شوي او بیا اړوند مدیریتونو ته دممکنه شته نیمګړتیاوو دپوره کولو په موخه راپورونه ورلیږل شوي دي.
- دپوهنې ریاست اړوند د ۳۰۴ تنو کارکوونکو سوانح په افلاین سیستم کې ثبت شوي دي .
- دپوهنې ریاست اړوند ۴۴ تنه کارکوونکي د کارکوونکو چارو عمومي مدیریت له لوري د ظرفیت لوړولو پروګرامونو ته لیږل شوي دي.
- د کیفیت د تضمین برنامې دڅارنې او ارزونې له لوري د مرکز او ولسوالیو د پوهنې آمریتونو، دولتي او خصوصي ښوونځیو او اسلامي زده کړو مدرسو څخه څارنه تر سره شوې ده،راپورونه یې ورڅخه ترتیب او اړوند مراجعو ته لیږل شوي دی.
- د زده کوونکو دسه پارچه کولو کارونه ترسره شوي دي.
- د کیفیت دتضمین امریت دڅارنې او ارزونې دمسلکي غړیو له لوري دخوست ولایت په کچه دمؤسساتو دمحلي او چټکو زده کړو ټولګیو څخه په منظمه توګه څارنه ترسره شوې ده،راپورونه ورڅخه ترتیب او اړوند مراجعو ته لیږل شوي دي.
- دخوست ولایت داحصایې اوایمیس مدیرت له لوري دمرکز او ولسوالیو پوهنې امرینو او اسلامي زده کړو کارمندانو ته داحصایې په مورد په اته دوله فورمو کې انفرادي زده کړې ور کول شوي دي.
- دڅارنې او ارزونې مسلکي غړو لخوا دمرکز او ولسوالیو،دعمومي ښوونځیو او محلي او چټکو ټولګیو څخه څارنه او ارزونه تر سره شوې ده.
- د تضمین کیفیت امریت د راپور تحلیل او توحید مسلکی غړو له لوري دپوهنې ریاست دغونډو په تالار کې د پوهنې ریاست مرکزی هستې دبرنامو او مدیریتونو ۲۹تنه مدیرانو او کارمندانو ته دپوهنې ریاست دعملیاتي پلان او عملیاتي پلان دپرمختګ څخه دراپور ترتیب کولو په برخه کې د۲۱-۱۲-۱۴۰۳ څخه تر۲۷-۱۲-۱۴۰۳نیټې پورې ٦ورځنی ورکشاپ دایر شوی دی،چې په پایله

کې دیادو برنامو اومدیریتونو دعملیاتي پلان دپرمختګ څخه د راپور ترتیب کوونکو مدیرانو او کارمندانو دعملیاتي پلان ترتیب کول او دعملیاتي پلان دپرمختګ څخه د راپور ترتیب او چمتو کول زده کړی دی.

# خلورمه برخه

## تحلیل او پایلې

| شمیره | فعالیتونه | شاخصونه | ټاکلې موخه | کمي پرمختګ | د پرمختګ سلنه | د فعالیت حالت: بشپړ شوی | تر کار لاندې | ناپیل شوی | ځنډول شوی | د بشپړ شویو فعالیتونو پایلې | نا پیل شویو، ځنډول شویو نه بشپړ شویو فعالیتونو لاملونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لومړۍ برخه: کیفیت اوتړاو | | | | | | | | | | | |
| 1. ښوونه او روزنه | | | | | | | | | | | |
| 1.1 | د مرکزي او ولایتي ښوونځیو دکتابتونونو د کتابدارانو د اړتیاوو ارزونه او ظرفیت لوړول؛ | د خارل شویو ولایتي کتابتونونو شمېر | 10 | 10 | 100% | √ | | | | دکتابتونو دحالت معلومات تر لاسه شوي. | |
| 1.2 | په ګرمو او سړو ولایتونو کې د کلیوالي مدرسو د درسي کتابونو ازمایښتي تطبیق؛ | تړپوښښ لاندې ولایتونو شمېر | 1 | 1 | 100% | √ | | | | په کتابونو کې نیمګړتیاوې معلومې شوې دي | |
| 1.3 | د عمومي زده کړو، اسلامي زده کړو او سواد زده کړې د اړتیاوو د ارزونې موندنو پر بنسټ د ښوونیزو موادو پراختیا؛ | د سواد زده کړې د څارل شوو کورسونو شمېر | 50 | 399 | 100% | √ | | | | دفعالیتونو څخه داډ ترلاسه شوی او نیمګړتیاوې معلومې او لارښوونې ورته شوې دي. | |
| 1.4 | د ولایتونو په کچه د علمي غړو (مربیانو) ظرفیت لوړول؛ | د مرکزي ټیم لخوا د روزل شوو ولایتي علمي غړو شمېر | 13 | 0 | 0% | | | √ | | | خوست ولایت ته دمرکز څخه روزنیز ټیم ندی راغلی. |
| | | د ولایتي ټیمونو لخوا د ولسوالیو په کچه د روزل شوو علمي غړو شمېر | 96 | 0 | 0% | | | √ | | | دبودیجې دنه شتون له امله د ولایتي ټیم له لوري ورکشاپونه ندی دایر شوي. |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1.5 | د علمي افکارو، مسؤلیت منلو او ښه چلند په برخه کې په مرکز او ولایتونو کې د ښوونکو، مدیرانو او د ښوونځیو د اداري شوراګانو او علمي غړو لپاره د ظرفیت لوړولو د پروګرامونو ترتیبول؛ | د روزل شوو علمي غړو شمېر | 109 | 170 | 100% | √ | | | | | |
| 1.6 | کارکوونکو ته د جواز ورکولو د سیستم د پلی کیدو په موخه لازم چمتوالی؛ | د جواز ورکولو سیستم د معرفی کولو په برخه کې د روزل شوو کارکوونکو شمېر | 109 | 0 | 0% | | | √ | | | د مرکز له لورې دخوست ولایت کارکوونکو ته دجواز ورکولو سیستم په برخه زده کړې ندی ورکړې. |
| 1.7 | د لابراتوارنو د اړتیاوو معلوموللوپاره سروې او په مرکز او ولایتونو کې د ترسره شوو پروګرامونو حمایوي څارنه؛ | د سروې اوحمایوي ترسره شوې څارنې شمېر | 1 | 1 | 100% | √ | | | | د لابراتوارونو اړتیاوې معلومې شوی دی. | |
| 1.8 | د لابراتوارونو او کمپیوټرونو اغیزمنتوب او کارولو څخه څارنه او لیدنه؛ | د ترسره شوو کتنو شمېر | 1 | 1 | 100% | √ | | | | دلابراتوارنو او کمپیوتر لبونو څخه د موثرې استفادې کولو څخه ډاډ ترلاسه شوي دی. | |
| 1.9 | د ساینس ولایتي مدیریتونو علمي غړو او لابرانت لپاره د ساینس، ریاضي او کمپیوټر برخه کې د روزنیزو پروګرامونو تنظیمول؛ | د روزل شوو علمي غړو شمېر | 9 | 0 | 0% | | | √ | | | له مرکز څخه دیاد فعالیت دترسره کولو لپاره روزنیز ټیم ندې راغلی. |
| 1.10 | د پوښښ لاندې ښوونځیو ښوونکو لپاره د اشارې ژبې او بریل برخه کې د روزنیزو ورکشاپ دایرول؛ | د روزل شوو نارینه ښوونکو شمېر | 28 | 0 | 0% | | | √ | | | دبودیجی دنه شتون له امله روزنیز ورکشاپ ندی دایر شوي. |
| | | د روزل شووښځینه ښوونکو شمېر | 13 | 0 | 0% | | | √ | | | دبودیجی دنه شتون له امله روزنیز ورکشاپ ندی دایر شوي. |
| 1.11 | د معلولیت لرونکو ماشومانو د حقونو په اړه د زده کونکو، ښوونکو او د ښوونځیو د اداري | د له زده کړو څخه د برخمن شویو زده کوونکو شمېر | 420 | 0 | 0% | | | √ | | | دبودیجې دنه شتون له امله یاد فعالیت ندی ترسره شوي. |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | غړو د ظرفیت لوړول؛ | له زده کړو څخه د برخمن شویو ښوونکو شمېر | 245 | 0 | 0% | | | √ | | | دبودیجې دنه شتون له امله یاد فعالیت ندی ترسره شوي. |
| | | له زده کړو څخه د برخمن شویو اداري غړو شمېر | 85 | 0 | 0% | | | √ | | | د بودیجې دنه شتون له امله یاد فعالیت ندی ترسره شوي. |
| 1.12 | ذ مسلکي غړو له خوا دکابل ښار او په ولایتونو کې د ریاست د تخنیکي غړو لخوا د واش (WASH) Dewormin په برخه کې د ځاروندی د تروپ ګروپونو او بدني روزنې ښوونکو لپاره د سیمینارونو او ورکشاپونو دایرول؛ | د دایرشوو ورکشاپونو شمېر | 1 | 1 | 100% | √ | | | | دظرفیت لوړونه شویده | |
| | | د بدني روزنې د مسلکي او غیر مسلکي روزل شوو ښوونکو شمېر | 10 | 0 | 0% | | | √ | | | د بودیجې دنه شتون له امله روزنیز ورکشاپونه ندي دایر شوي . |
| | | د اصول صنفي روزل شوو ښوونکو شمېر | 4 | 0 | 0% | | | √ | | | د بودیجې دنه شتون له امله روزنیز ورکشاپونه ندي دایر شوي . |
| | | د روغتیا په برخه کې د ښوونکو، مدیرانو، آمرینو او مسلکي روزل شوو غړو شمېر | 65 | 60 | 92% | | √ | | | | پنځه شپیته موخه وه چې شپیته شوی او پنځه پاتی دی. |
| | | د روغتیا په برخه کې له روزنو د برخمن شویو زده کوونو او ښوونکو شمېر | 600 | 0 | 0% | | | √ | | | د بودیجې دنه شتون له امله روزنیز ورکشاپونه ندي دایر شوي . |
| 1.13 | د ځاني ارزونې له مخې د قابلیتونو د ارزونې په برخه کې د ولایتونو او کابل ښار په ګډون د لازم ظرفیت رامنځته کول او د سواد زده کړې د پروګرامونو د کیفیت د ښه والي لپاره د لازمو لارښوونو ترتیبول او ملي کول؛ | تر پوښښ لاندې ولایتونو شمېر | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | دمرکز له لوري کومې لارښوونې ندی ترتیب شوي. |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1.14 | د مرکز په کچه د سواد زده کړو د پروګرامونو د ښه تطبیق په موخه، د ترتیب شویو لایحو، طرزالعملونو او لارښودونو د معرفي په هکله د روزنیز ورکشاپ په لاره اچول؛ | د روزل شوو ګډونوالو شمېر | 2 | 0 | 0% | | | √ | | | د مرکز له لورې پدې مورد کوم ورکشاپ په لاره ندی اچول شوي. |
| 1.15 | د سواد زده کړې پروګرام د پلي کولو لپاره د سرچینو تشخیص او ترلاسه کول، د دولتي، غیر دولتي بنسټونو او رضاکارانو ملاتړ ترلاسه کول؛ | د تشخیص شویو او جلب شویو بشري سرچینو شمېر | 13 | 23 | 100% | √ | | | | رضاکارانو جلب او جذب سره دسواد زده کړې په برخه کې همکاري شوي، دسواد زده کړې کیفیت ورسره لوړشوي دی. | |
| | | د ترلاسه شوي بودجې اندازه (افغانی) | 14000 | 0 | 0% | | | √ | | | دتعلیم په مورد دعامو خلکو ذهنیت سازي نده شوې. |
| 1.16 | د سیمه ییزو خلکو (رضا کارانو) له لارې د ١٨ ولایتونو په کچه د ولایتونو د پوهنې په ریاستونو کې د کلیو د سواد زده کړې کمېټو د غونډو جوړول؛ | د سواد کمېټو د ترسره شویو غونډو شمېر | 60 | 518 | 100% | √ | | | | دسواد زده کړې بهیر ورسره منظم او غښتلي شوي دی. | |
| 1.17 | د خصوصي ښوونځیو د حق الشمول او حق الاجرت (فیس) د درجې او اندازې ټاکلو تثبیتول. | تعداد مکاتب درجه بندی شده است | 50 | 0 | 0% | | | √ | | | تر اوسه پورې دنوموړي فعالیت دترسره کولو لپاره کمیسیون ندی ایجاد شوي. |
| 2. اسلامي زده کړې | | | | | | | | | | | |
| 2.1 | دارالعلوم ته د مدرسو لوړول؛ | دارالعلوم ته د ارتقاء شویو مدرسو شمېر | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | دمعیار دنه پوره کولو له امله کومه مدرسه دارالعلوم ته نده لوړه شوي. |
| 2.2 | د دارالعلومونو د اداري او تدریسي چارو د بیا کتنې او ارتیاؤ معلومولو په موخه د علمي او | د معلوم شویو اړتیاؤ شمېر | 228 | 1 | 0.5% | | √ | | | | لږ څه پرمختګ پکې شوی دی. |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | تدریسي غړو لېږل؛ | د کتل شویو او بررسی شویو دارالعلومونو شمېر | 57 | 1 | 2% | | √ | | | | دیو باب موجود دارالعلوم څخه دوه څلي څارنه شوی دی،چې چارې یې کتل شوی دی. |
| 2.3 | په مرکز او ولایتونو کې د نویو مقرر شویو کارکوونکو د ظرفیت لوړولو په موخه د لارښوونې سیمینارونو دایرول؛ | د ولایتي دایر شویو سیمینارونو شمېر | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | دمرکز څخه کوم ټیم خوست ولایت دظرفیت لوړولو په موخه نه دی راغلی. |
| 2.4 | د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې د اسلامي زده کړو اړوند مدرسو او دارالحفاظونو د اداري او تدریسي کارونو د بیاکتنې او اړتیاؤ معلومولو په موخه د علمي او تدریسي غړو ورلیږل؛ | د معلوم شویو اړتیاؤ شمېر | 228 | 259 | 100% | √ | | | | اړتیاوې معلومې شوی دی چې داغ اړتیاوی به ورته برابری شی. | |
| | | د کتل شویو مدرسو او دارالحفاظونو شمېر | 57 | 151 | 100% | √ | | | | دمدارسو او دارالحفاظونو چارې دڅارلو سره منظمې او چټکې شوی دی. | |
| 2.5 | په شته ډیټابیس کې د علماء کرامو د ازموینو ثبتول؛ | د ثبت شویو علماء کرامو شمېر | 514 | 2667 | 100% | √ | | | | په فورمو کې علما کرام ثبت شوی دی. | |
| 2.6 | په مرکز او ولایتونو کې د مدرسو او دارالحفاظونو استادانو ته د نویو درسي کتابونو د وروپیژندلو په موخه د ورکشاپ دایرول؛ | د روزل شویو ښوونکو شمېر | 20 | 0 | 0% | | | √ | | | د وزارت له لورې روزنیز ټیم ندی راغلی. |
| 2.7 | د مدرسو فارغین په عالیه او عالمیه ازموینو کې ثبتول. | د ثبت شویو فارغانو شمېر | 57 | 1377 | 100% | √ | | | | دعالیه او عالمیه دورې مدارس دشیخ زاید پوهنتون سره ثبت شوی دی چې ذکر شوی تعداد زده کوونکو په عالیه او عالمیه درجو دامتحان لپاره ثبت نام کړی او دعالیه او عالمیه دورو امتحان شیخ زاید امارتی پوهنتون اخیستی دی. | |
| ۳. د کیفیت تضمین | | | | | | | | | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 3.1 | د ولایتونو او ولسوالیو په کچه د کیفیت لرونکو احصاییوي ارقامو راټولولو په موخه د ظرفیت لوړونې ورکشاپونو په لاره اچول؛ | د ولایتونو په کچه د دایر شویو ورکشاپونو شمېر | 22 | 1 | 5% | | √ | | | | .له مرکزکابل څخه روزنیز ټیم راغلی او داحصایی فورمو په اړوند مرکز او ټولو ولسوالیو دتعلیمی مرکزو مسؤلینو ته یو ورکشاپ ورکړی دی. |
| 3.2 | د هېواد په کچه د ۱۴۰۲ هـ ش کال احصاییِوي ارقامو 10% کتنه او تصدیق؛ | د ارقامو د تصدیق شویو راپورونو شمېر | 1 | 1 | 100% | √ | | | | د ارقامو د دقیق والي او صحت څخه ډاډ ترلاسه شوي دی. | |
| 3.3 | د ډیټاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰۲ هـ ش کال د احصاییي ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛ | نشراتو ریاست ته د لېږل شویو پروفایلونو شمېر | 1 | 1 | 100% | √ | | | | دپوهنې احصائیوي معلومات به دنشراتو ریاست کې موجود وي،دنشراتو په برخه کې کار تر اخیستل شوي،دپلانونو په ترتیب کې ترې کار اخیستل شوي. | |
| 3.4 | د ډیټاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰۳ هـ ش کال د احصاییي ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول؛ | نشراتو ریاست ته د استول شویو پروفایلونو شمېر | 1 | 1 | 100% | √ | | | | دپوهنې احصائیوي معلومات به دنشراتو ریاست کې موجود وي،دنشراتو په برخه کې کار تر اخیستل شوي،دپلانونو په ترتیب کې ترې کار اخیستل شوي. | |
| 3.5 | د نویو تاسیس شویو او د تېرو کلونو د پاتې ښوونځیو د مختصاتو راټولول؛ | د مختصاتو د راټولولو په موخه د پلان شویو روزنیزو مرکزونو شمېر | 216 | 32 | 15% | | √ | | | | دتعلیمات عمومی برنامی د۳۲مکاتبو مختصات اخیستل شوی دی. |
| 3.6 | د بري لیکونو/شهادتنامو ترتیب، تدقیق، طی مراحل او وېشل؛ | په گروپي بڼه د وېشل شویو بري لیکونو شمېر | 1902 | 5665 | 100% | √ | | | | دشهادتنامو څخه گټه اخیستونکو دشهادتنامو څخه پروخت گټه اخیستي ده. | |
| 3.7 | د ولایتونو پوهنې ریاستونو ته د سپینو بري لیکونو/شهادتنامو وېشل؛ | د سپینو وېشل شویو بري لیکونو شمېر | 2500 | 6778 | 100% | √ | | | | دوزارت څخه سپینې شهادتنامې رالیږل شوی دی چې په موقع به استفاده وشی. | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 3.8 | د دولسم او څوارلسم ټولګیو د فارغانو د نتایجو جدولونو تدقیق، تطبیق او تاییدول؛ | د دولتي ښوونځیو د پایلو د تایید شویو جدولونو شمېر | 139 | 181 | 100% | √ | | | | داړتیا پرمهال ګټه تری اخیستل کیدای شی. | |
| | | د خصوصي ښوونځیو د پایلو د تایید شویو جدولونو شمېر | 39 | 53 | 100 % | √ | | | | دښوونځیو دپایلو جدولونه پروخت تائید او ګټه تر اخیستل کیږی. | |
| | | د سامع فارغانو د پایلو د تایید شویو جدولونو شمېر | 32 | 1096 | 100% | √ | | | | فارغان به ټولنې ته دخدمت او دتقرر او تائیدی په برخه کې ګټه ترې اخلي. | |
| 3.9 | د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو په برخه کې فردي او نهادي ظرفیت لوړونه؛ | د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو په برخه کې د روزل شویو کارکوونکو شمېر | 14 | 29 | 100% | √ | | | | کارمندانو ظرفیت لوړونه شویده. | |
| 3.10 | د ولایتونو پوهنې ریاستونو د فعالیتونو او پلانونو له تطبیق څخه ربعواره څارنه؛ | د ولایتونو د څارل شویو پوهنې ریاستونو شمېر | 1 | 1 | 100% | √ | | | | له مرکز څخه ټیم راغلی او یاد فعالیت یی تر سره کړیده. | |
| 3.11 | د ولایتونو د پوهنې ریاستونو او کابل ښار پوهنې ریاست اړوند د پوهنې وزارت د همکارو مؤسسو له پروژو څخه څارنه؛ | د ولایتونو د پوهنې په برخه کې د اړوند مؤسسو د څارل شویو پروژو څخه د ترتیب شویو توحیدي راپورونو شمېر | 1 | 1 | 100% | √ | | | | له مرکز ټیم راغلی او یاد فعالیت ترسره کړیدی. | |
| 3.12 | د عملیاتي پلان له تطبیق څخه د څارنې او ارزونې په موخه د راپور ورکولو سیستم استفاده کول؛ | د ولایتونو شمېر چې راپورونه یې د استفادې وړ ګرځېدلي | 1 | 1 | 100% | √ | | | | دعملیاتي پلان دتطبیق څخه په منظمه توګه ربعوار راپورونه ترتیب او لوړ مقامات ورڅخه خبر شوی دی. | |
| 3.13 | د ۱۴۰۳ کال لپاره د عملیاتي پلان او د باثباته پراختیایي موخو پر بنسټ د ولایتونو د پوهنې ریاستونو له کلنی کړنو څخه د ارزونې ترسره کول؛ | د ارزول شویو ولایتونو د پوهنې ریاستونو شمېر | 1 | 1 | 100% | √ | | | | د مرکز څخه محترم ټیم راغلی او یاد فعالیت یی ترسره کړیدی او دارزونې راپور یی شریک کړیدی. | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 3.14 | د عملیاتي پلان د راپور ورکولو آنلاین سیستم پراختیا او تطبیق؛ | د ولایتونو شمېر چې سیستم پکې فعال او تطبیق شوی دی | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | د راپور ورکولو آنلاین سیستم تطبیق شوی نه دی. |
| 3.15 | د چمتو شوي فارمټ سره سم، د ولایتونو په کچه د پلانونو د پرمختګ او لاسته راوړنو ربعوار راپورونو راټولول؛ | د ربعوار راټولو شویو راپورونو شمېر | 4 | 4 | 100% | √ | | | | دپوهنې اوړ او ذیصلاح مقامات د لاسته راوړنو او پدې لاره کې دشته ستونزو څخه پروخت اګاهی تر لاسه کړی ده. | |
| 3.16 | د ښوونیز کال په پیل او پای او دوو پړاوونو کې د شپږو سړو ولایتونو په ښوونځیو کې په پرتله ایيزه توګه د دریم ټولګي د زده کوونکو د لوستلو د کچې ارزول؛ | د ارزونې راپو ر | 1 | 1 | 100% | √ | | | | د وزارت څخه محترم ټیم راغلی دی او یاد فعالیت ترسره کړی دی،دپایلو څخه به د راتلونکو راپورونو او کړنو په ترتیب کې کار واخلی. | |
| 3.17 | په شپږو سردسیرو ولایتونو (بلخ، هرات، کاپیسا، خوست، نورستان او سمنګان) کې د شپږم ټولګي د ریاضي مضمون د ازموینې د پارچو ارزونه؛ | د پاڼو د ارزونې راپور | 1 | 1 | 100% | √ | | | | د وزارت څخه محترم ټیم راغلی دی او یاد فعالیت ترسره کړی دی،دپایلو څخه به د راتلونکو راپورونو او کړنو په ترتیب کې کار واخلی. | |
| 3.18 | د مرکز او ولایتونو په کچه د تقنیني اسنادو او پالیسیو د تطبیق د وړتیا ارزونه او تجربوي تطبیق؛ | د ترسره شویو کړنو سلنه | 100% | 0% | 0% | | | √ | | | د مرکز څخه ټیم ندی راغلی. |
| 3.19 | د مرکز او ولایتونو په کچه د تقنیني سندونو او پالیسیو په برخو کې د کارکوونکو روزل او ظرفیت لوړونه؛ | د تطبیق شویو روزنیزو پروګرامونو سلنه | 100% | 0% | 0% | | | √ | | | د مرکز څخه ټیم ندی راغلی. |
| ۴. سرچینې او اداره | | | | | | | | | | | |
| 4.1 | د هیواد په ۶ ولایتونو (خوست، قندهار، بخدشان، غزنی، پنجشیر او جوزجان) کې د ښوونکو صندوق رامنځ ته کول؛ | تر پوښښ لاندې ولایتونو شمېر | 1 | 1 | 100% | √ | | | | دښوونکو صندوق فعال شوی چې (۱۷۴)تنو ښوونکو ترې ګټه اخیستی ده. | . |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 4.2 | د مرکز او ولایتونو په کچه د مالي چارو په برخه کې د کارکوونکو د ظرفیت لوړول؛ | د ولایتونو په کچه د روزل شویو کارکوونکو د شمیر | 5 | 0 | 0% | | | √ | | | د وزارت څخه روزونکی ټیم نه دی راغلی. |
| 4.3 | د پوهنې وزارت د اداري کارکونکو له پاره د ظرفیت لوړولو د استراتیژۍ طرحې جوړول؛ | د پرمختګ سلنه | 100% | 0% | 0% | | | √ | | | دپوهنې وزارت له خوا دظرفیت لوړونې کومه طرحه نده رالیږل شوي. |
| 4.4 | د مرکز او ولایتونو په کچه د کارکوونکو د سوانحو دفترونو تدقیق، تصحیح، تطبیق او برېښنايي کول؛ | د پرمختګ سلنه | 100% | 0% | 0% | | | √ | | | د سوانح دفترونه تر اوسه ندی الکترونکی شوی. |
| 4.5 | د مرکز او ولایتونو په کچه د مدرسو او ښوونځیو د جایدادونو له پاره د ملکیت سندونو جوړول؛ | د ترتیب شویو اسنادو شمېر | 15 | 6 | 40% | | √ | | | | دا فعالیت دشپږو مرکزونو ترسره شوی دی. |
| 4.6 | د مرکز او ولایتونو په کچه د اداري ځایونو او روزنیزو مرکزونو د ودانیو، ترمیمولو او احاطو سجل کول؛ | د سجل شویو ودانیو شمېر | 10 | 2 | 20% | | √ | | | | دا فعالیت په راتلونکی وخت کې جریان لري. |
| | | د روزنیزو مرکزونو د احاطوي سجل شویو دیوالونو شمېر | 5 | 1 | 20% | | √ | | | | یوه محوطه شوی ده. |
| | | د ترمیم شویو سجل شویو روزنیزو مرکزونو شمېر | 5 | 2 | 20% | | √ | | | | دوه ترمیم شویو مرکزونو سجیل شوی دی. |
| 4.7 | د املاکو په دفترونو او معلوماتي سیستم کې د ملکیتونو د سندونو او سجلو ثبتول او د هغو فایلبندي؛ | د ملکیت د ثبت شویو سندونو شمېر | 15 | 0 | 0% | | | √ | | | دترانسپورت نه شتون ستونزه. |
| | | د ثبت شویو سجلو شمېر | 12 | 0 | 0% | | | √ | | | دترانسپورت نه شتون ستونزه. |
| 4.8 | د هغو سپینو او امارتي ځمکو تثبیتول چې په هغو باندې پخوا د ښوونځیو او مدرسو ودانۍ جوړې شوي او تر اوسه پورې دي | په جریب سپینې تثبیت شوې ځمکې | 70 | 112 | 100% | √ | | | | دپوهنې دانینده کړنو دترسره کولو لپاره ځمکې ثبت شوی دی. | کار وربندې روان دی. |
| | | د جوړو شویو ودانیو شمېر | 25 | 0 | 0% | | | √ | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | وزارت نه دي انتقال شوي؛ | | | | | | | | | | |
| 4.9 | د مرکز او ولایتونو په کچه د غصب، شویو، نیول شویو اودعوایي ځمکو بررسي او د قضیوراټولول او د منازعاتو د حل په معلوماتي سیستم کې ثبتول؛ | د کتل شویو قضیو شمېر | 10 | 0 | 0% | | | √ | | | |
| | | د ثبت شویو غصبي او دعوایي اسنادو او دوسیو شمېر | 13 | 2 | 15% | | √ | | | | دوه قضیي دمرکز اړوند شهید مطیع الله لېسه او استقلال لیسی دمنازعاتو دحل په معلوماتی سیستم کی ثبت شوی او کار یی بشپړ شوی دی. |
| ۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونو تنظیم | | | | | | | | | | | |
| 5.1 | د امیرالمؤمنین د فرمانونو او د ریاست الوزرا ، وزیرانو شورا او پوهنې وزارت مشرتابه له حکمونو او لارښوونو څخه د ډاد تر لاسه کولو په موخه سفر تر سره کول؛ | ولایتونو شمېر | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | د وزارت څخه دیا فعالیت دترسره کولو لپاره هئیت ندي راغلی. |
| 5.2 | د عامه پوهاوي او چاپي خپرونو چاپ او ویش؛ | په ولایتي کچه د عرفان د وېشل شویو مجلو شمېر | 850 | 220 | 26% | | √ | | | | دعرفان ذکر شوی تعداد مجلې راغلی او په شعباتو ویشل شوی دی. |
| | | په ولایتي کچه د بخوان و بېندیش د وېشل شویو مجلو شمېر | 850 | 185 | 22% | | √ | | | | دبخوان وبینديش ذکر شوی تعداد مجلې راغلی او په شعباتو ویشل شوی دی. |
| | | په ولایتي کچه د پوهنې د وېشل شویو اوونیزو شمېر | 1700 | 635 | 37% | | √ | | | | دپوهنې ذکر شوی تعداد اوونیزې راغلی او په شعباتو ویشل شوی دی. |
| | | په ولایتي کچه د وېشل شوې کلیزې شمېر | 40 | 0 | 0% | | | √ | | | دوزارت څخه ندی رالیرل شوي. |
| | | د ولایتونو له پاره د چاپ شویو او وېشل شویو بروشورونو شمېر | 160 | 0 | 0% | | | √ | | | د وزارت څخه نه دي رالیرل شوي. |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 5.3 | د پوهنې د یوکلنې کړنې په هکله د کتابونو چاپ؛ | د ولایتونو له پاره د چاپ شویو او وېشل شویو کتابونو شمېر | 40 | 0 | 0% | | | √ | | | د وزارت څخه نه دي رالېرل شوي. |
| 5.4 | د ولایتونو، ولسوالیو او ښوونځیو په کچه د درسي کتابونو د وېشلو له پروسې څخه تخنیکي کتنه؛ | د کتل شویو ولایتونو شمېر | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | د مرکز څخه تیم نه دی راغلی. |
| | | د کتل شویو ولسوالیو شمېر | 2 | 0 | 0% | | | √ | | | د مرکز څخه تیم نه دی راغلی. |
| | | د کتل شویو ښوونځیو شمېر | 4 | 0 | 0% | | | √ | | | د مرکز څخه تیم نه دی راغلی. |
| 5.5 | د هیواد په کچه په پښتو او دري ژبه د سواد زده کړې د ۱۸۱۷۰۰ ټوکه درسي کتابونو چاپ او وېش؛ | د وېشل شویو درسي کتابونو شمېر | 10,250 | 0 | 0% | | | √ | | | د وزارت څخه نه دي رالېرل شوي. |
| 5.6 | د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود د ۴۴۹۶۵ ټوکه درسي کتابونو وېش؛ | د وېشل شویو درسي کتابونو شمېر | 2,125 | 0 | 0% | | | √ | | | د وزارت څخه نه دي رالېرل شوي. |
| 5.7 | په مرکز کې د استهلاک شویو کتابونو د لیلام چارو تعقیبول او د ولایتونو د نشراتو مدیرانو له لوري د کارونو د پراوونو بشپړول؛ | د ولایت په کچه د لیلام شویو کتابونو شمېر | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | د وزارت له لوري دیاد فعالیت داجرا په موخه لا تر اوسه هدایت نه دی شوي. |
| 5.8 | د پلټنې په برخه کې د ولایتي او مرکزي کارکوونکو لپاره د روزنیزو پروګرامونو په لاره اچول؛ | د روزل شویو ولایتي کارکوونکو شمېر | 5 | 0 | 0% | | | √ | | | د مرکز څخه ورزنیز تیم نه دی راغلی. |
| 5.9 | د اړونده پروګرامونو د رسولو په موخه ولایتونو ته د دعوت او ارشاد ریاست د کارکوونکو سفر کول. | د پلان شویو سفرونو شمېر | 2 | 1 | 50% | | √ | | | | د دعوت او ارشاد ریاست یو تیم یو سفر کړی دی. |

## دویمه برخه: انډولیز لاسرسی

1. ښوونه او روزنه

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1.1 | د هېواد په کچه د ښوونکو د مسلکي پراختیا په موخه د اړونده پروګرامونو د تطبیق له څرنګوالي څخه څارنه؛ | تر پوښښ لاندې ولایتونو شمېر | 1 | 1 | 100% | √ | | | | دښوونکو مسلکی پراختیا مرکزونو څارنه شوی ده. | |
| 1.2 | د ولایتونو په کچه د تړل شویو ښوونځیو د بیا پرانستلو او برخلیک ټاکلو په اړه لازم اقدامات؛ | د پرانستل شوو ښووونځیو شمېر | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | تړلی ښوونځی نشته. |
| 1.3 | د فزیک، کیمیا، بیولوژي، ریاضي او محیطي ساینس په برخو کې د شته کمپیوتر لبو او لابراتوارونو تجهیزول او رامنځته کول؛ | د تجهیز شوو لابراتوارونو شمېر | 3 | 0 | 0% | | | √ | | | دبودیجی نه شتون  دی. |
| | | د تجهیز شوو کمپیوترلب شمېر | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | دبودیجې نه شتون دی. |
| 1.4 | په دولتي ښوونځیو کې د مرکز او ولایاتو په کچه د 1000000 جدیدالشمول زده کوونکو جذبول؛ | دنارینه جذب شوو جدیدالشموله شمېر | 20434 | 14990 | 73% | | √ | | | | دا فعالیت عموما دکال په لومړۍ ربعه کې ترسره شوی دی،چې یاد تعداد جذب شوی دی. |
| | | د ښځینه جذب شوو جدیدالشموله شمېر | 8676 | 6477 | 75% | | √ | | | | دا فعالیت عموما دکال په لومړۍ ربعه کې ترسره شوی دی،چې یاد تعداد جذب شوی دی. |
| 1.5 | د کابل ښار او ولایتونو په کچه د 150 بابه نویو ښوونځیو  تأسیس؛ | د تأسیس شوو ښوونځیو شمېر | 4 | 0 | 0% | | | √ | | | امارتی ښوونځی ندی تاسیس شوی مراجعه نده شوی. |
| 1.6 | په کابل ښار او ولایتونو کې د اړوندو ادارو سره د پخوانۍ همغږۍ پر بنسټ د منځنۍ دورې ښوونځیو د لومړنیو ښوونځو لېسې ښوونځیو ته د منځنیو ښوونځیو لوړول؛ | له لومړنیو څخه منځنیو ښوونځیو ته د لوړ شوو نارینه ښوونځیو شمېر | 1 | 2 | 100% | √ | | | | د لومړنۍ دورې فارغ په دهمدې ښوونځې په منځنۍ دوه کې شامل شوي او دزده کړو لاندې نیول شوي دی | |
| | | له لومړنیو څخه منځنیو ښوونځیو ته د لوړ شوو ښځینه ښوونځیو شمېر | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | .تر اوسه چا مراجعه نده کړي؛د لوړېدو معیار ندې پوره کړي. |
| | | له لومړنیو څخه منځنیو ښوونځیو ته د لوړ شوو مختلط ښوونځیو شمېر | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | تر اوسه چا مراجعه نده کړي؛د لوړېدو معیار ندې پوره کړي. |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | له منځني څخه لیسې دورې ته د لوړ شوو نارینه ښوونځیو شمېر | 1 | 1 | 100% | √ | | | | د لیسې دورې درسیمې او همدې ښوونځی زمتوسطه دورې زده کوونکی به په لیسه دورو ته دوام ورکړی. | |
| | | له منځني څخه لیسې دورې ته د لوړ شوو ښځینه ښوونځیو شمېر | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | .تر اوسه چا مراجعه نده کړي؛د لوړېدو معیار ندې پوره کړي. |
| | | له منځني څخه لیسې دورې ته د لوړ شوو مختلط ښوونځیو شمېر | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | .تر اوسه چا مراجعه نده کړي؛د لوړېدو معیار ندې پوره کړي. |
| 1.7 | جلا کول، د نوم بدلول، ادغام، د جنسیت بدلون، د اقلیم بدلون او په مرکز او ولایتونو کې له یوه ځای څخه بل ځای ته د ښوونځیو انتقال؛ | د تجزیه شوو نارینه ښوونځیو شمېر | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | تر اوسه چا مراجعه نده کړي. |
| | | د هغودولتی ښوونځیو شمېر جې نوم یې بدل شوی | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | تر اوسه چا مراجعه نده کړي. |
| | | د هغو خصوصي ښوونځیو شمېر چې نوم یې بدل شوی | 2 | 2 | 100% | √ | | | | شاید ښه او مناسب نوم ورته انتخاب شوی وی. | |
| | | د مدغم شوو ښوونځیو شمېر | 1 | 1 | 100% | √ | | | | ګڼ نفوسه سیمې په ښوونځي کې ور ادغام شوي ده او د لایحې مطابق شوي ده. | |
| | | د هغو ښوونځیو شمېر چې جنیست یې بدلو موندلی | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | تر اوسه چا مراجعه نده کړي. |
| | | د دولتي لیردول شوو ښوونځیو شمېر | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | تر اوسه چا مراجعه نده کړي. |
| 1.8 | د مرکزي او ولایتي ریاستونو او اړوندو ادارو سره د ښوونځیو جوړولو د پروژو (د احاطې دیوال، احاطې او د پاکو اوبو څاه ګانو) په برخو کې همغږي؛ | د همغږه شوو ساختماني پروژو شمېر | 2 | 2 | 100% | √ | | | | کارونه په ښه توګه ترسره شوي دی. | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1.9 | د ځانګړو اړتیاو لرونکو ماشومانو لپاره د ښوونیزو مرکزونو رامنځته کول؛ | د ځانګړو اړتیاو لرونکو ماشومانو لپاره د ښوونیزو مرکزونو شمیر | 8 | 0 | 0% | | | √ | | | دبودیجې نه شتون له امله ښوونیز مرکزونه ندي رامنځته شوي. |
| 1.10 | له بهر څخه راستانه شویو او مجاهدینو د اړتیاوو او غوښتنو سره سم د ټولګیو تثبیتول؛ | ولایتونو ته د راستنیدونکو غوښتونکو شمېر | 400 | 220 | 55% | | √ | | | | یاد فعالیت په ذکر شویو تعداد سره تر سره شوی |
| | | په کابل ښار کې دمجاهدینو متقاضیایانو شمیر | 150 | 0 | 0% | | | | | | |
| | | په ولایاتو کې د مجاهدینو متقاضیانو شمېر | 350 | 3657 | 100% | √ | | | | زده کړو کولو ته یې په رسمي توګه لاسرسی پیدا کړي دي. | |
| 1.11 | د مرستندویه موسسو په همکارۍ د هېواد په ټولو ولایتونو کې د سیمه ایيزو او چټکو زده کړو ټولګیو جوړول؛ | د تسریعي زده کړو د ایجاد شوو ټولګیو شمېر | 15 | 0 | 0% | | | √ | | | تر اوسه دمعارف همکارۍ کومې موسسې همکاري نه ده کړې. |
| | | د سیمه ایزو ده کړو د ایجاد شوو ټولګیو شمېر | 250 | 0 | 0% | | | √ | | | تر اوسه دمعارف همکارۍ کومې موسسې همکاري نه ده کړې. |
| 1.12 | د څارندوي ټیمونو، ترافیک او اور وژنې ټیمونو رامنځته کول او فعالول؛ | د ترافیک او اطفائیه ایجاد شوو ټیمونو شمېر | 2 | 49 | 100% | √ | | | | د ترافیک او اطفایې په برخه کې به کار وشی. | |
| | | د څارندوی ایجاد شوو ټیمونو شمېر | 2 | 13 | 100% | √ | | | | دښوونځیو دڅارندویانو اړوند چارې په ښه توګه تنظیم شوي دي او جریان لري. | |
| 1.13 | د سواد د اهمیت په اړه د عامه پوهاوي د لوړولو په موخه د پروګرامونو تنظیمول؛ | د سواد د نړیوالې ورځې په مناسبت د دایر شوو محفلونو شمیر | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | بودیجه او امکانات ورته نلري. |
| | | د بروشرونو او اعلاناتو د چاپ او خپرولو له لارې د عامه پوهاوي پروګرامونو شمیر. | 4 | 0 | 0% | | | √ | | | بودیجه او امکانات ورته نلري. |
| | | د صوتي او تصویري کلیپونو د خپرولو له | 1 | 0 | 0% | | | √ | | | بودیجه او امکانات ورته نلري. |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | لارې د عامه پوهاوي د پروګرامونو شمير | | | | | | | | | |
| | | د جوماتونو او تکيه خانو له لارې د عامه پوهاوي د پروګرامونو شمير | 104 | 112 | 100% | √ | | | | د سواد زده کړې داهميت په اړه دخلکو دپوهاوي کچه لوړه شوی ده. | |
| 1.14 | راستنيدونکو او داخلي بې ځايه شويو لپاره چې د زده کړې څخه بې برخې پاتې د سواد زده کړو د زمينې برابرول؛ | د راستنيدونکو سواد زده کړو زده کوونکو شمير | 400 | 0 | 0% | | | √ | | | بوديجه ورته نشته. |
| 1.15 | د سواد زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبول؛ | د جذب شوو سواد زده کړو زده کوونکو شمېر | 9,150 | 7039 | 77% | | √ | | | | دسواد زده کړې په کورسونو کې دنالوستو کسانو جذب شوی دی. |
